**د افغانستان اسلامي امارت**

**د پوهنې وزارت**

**د ننګرهار د پوهنې رياست**

**د کيفيت تضمين آمريت**

**دڅارنې، ارزونې او راپور ورکولو عمومي مديريت**

# د ننګرهار ولايت د پوهنې رياست د عملياتي پلان د کړنو پرمختګ کلنی راپور




د راپور ورکولو دوره: د ۱۴۰۴ کال (حمل ـ دلوې)

## مطالبو نوملړ

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې د راپور ترتیب کوونکو نوملړ ........ 1
د ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 2
سریزه ........ 4
لومړی برخه ........ 6
د کړنو لنډیز ........ 6
دویمه برخه ........ 10
د عناصرو او برنامو پر بنسټ د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی ........ 10
برنامه 1: اسلامي زده کړې. ........ 10
1.1 طالب العلماو حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ........ 10
1.2 مدرس/ استاد/ښوونکی ........ 11
1.3 نصاب ........ 12
1.4 ښوونیزه ارزونه ........ 13
1.5 ښوونیز چاپیریال ........ 13
1.6 د ټولنې ګډون ........ 14
1.7 مدیریت ........ 14
برنامه 2: ښوونه او روزنه ........ 14
2.1 زده کووونکی ........ 14
2.2 ښوونکی ........ 20
2.3 نصاب ........ 23
2.4 ښوونیزه ارزونه ........ 25
2.5 ښوونیز چاپیریال ........ 25
2.6 د ټولنې ګډون ........ 34
2.7 مدیریت ........ 34
برنامه 3: تضمین کیفیت ........ 39
7 مدیریت ........ 39
برنامه 4: منابع و اداره ........ 41
4.1 طالب العلم/حافظ/شاګرد/سواد اموز ........ 41
4.2 مدرس/استاد/معلم ........ 41
4.3 نصاب ........ 42
4.4ښوونیزه ارزونه ........ 42

4.5ښوونیز چاپیریال .......... 42
4.6د ټولنې ګډون .......... 45
4.7 مدیریت .......... 45
5: پوهنې ریاست اړوند (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان و ...) .......... 47
5.1طالب العلم، حافظ، زده‌کوونکې او سواد زده‌کوونکی .......... 47
5.2 مدرس/استاد/معلم .......... 47
5.3 نصاب .......... 47
5.4ښوونیزه ارزونه .......... 47
5.5 محیط اموزشی .......... 48
5.6 مشارکت جامعه .......... 48
5.7 مدیریت .......... 48
دریمه برخه .......... 49
د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه .......... 49
څلورمه برخه .......... 54
تحلیلی جدول .......... 54
پنځمه برخه .......... 110
د پام وړ ستونزې اوواړاندیز شوې حل لارې .......... 110
شپږمه برخه .......... 112
مالي راپور تحلیل .......... 112
اوومه برخه .......... 113
ملپاڼې .......... 113

## د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې د راپور ترتیب کوونکو نوملړ

| نوم او تخلص | دنده | بریښنالیک | اړیکي/وتساپ نمبر | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوي لیاقت علي (عابد) | د عمومي زده کړو آمر | | 0781135288 | |
| مولوي سید محمد صادق (هاشمي) | د مالي او اداري آمر | | 0783115050 | |
| مولوي وفي الله (مخلص) | د اسلامي زده کړو آمر | | 0784704650 | |
| استاد دلاور (مومند) | د کیفیت د تضمین آمر | | 0786715952 | |
| استاد مرحمت (جلال) | د څارنې، ارزونې او راپور عمومي مدیر | | 0788332275 | |
| جهادالله (اخندزاده) | د راپورو د شننې او توحید مسلکي غړی | | 0730048985 | |

### د پوهنې د رئیس تائید

| نوم او تخلص | دنده | بریښنالیک | اړیکي/وتساپ نمبر | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوي محمد شریف (حلیمي) | د ننګرهار د پوهنې رئیس | | 0785769796 | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات




ننګرهار د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له ډلې څخه، د ختیځ زون یو مهم سرحدي ولایت دی او د ختیځې سیمې مرکزي ولایت بلل کېږي.د دې ولایت مرکز د جلال‌اباد ښار دی، چې ۷.۷۲۷ کیلومتره مربع مساحت لري او د مرکزي احصایې اداري د اټکل له مخې، په ۱۳۹۹ لمریز کال کې یې د وګړو شمېر ۱،۷۰۱،۸۹۶ تنه ښودل شوی دی. د دې ولایت ډېری وګړي په پښتو ژبه خبرې کوي، او یو شمېر عربي، پشه‌یي، هندؤیي او تاجکي قومونه هم پکې مېشت دي.

ننګرهار ولایت د کابل ښار څخه په ۱۷۷ کیلومترۍ کې، د خیبر درې ته نږدې موقعیت لري او د بحر له سطحې څخه ۵۸۰ متره لوړوالی لري.

دا ولایت ۲۳ ولسوالۍ لري چې له سرخرود، خوګیاني، شیرزاد، حصارک، چپرهار، پچیراګام، هسکه مېنه، غني‌خېل، دوربابا، اچین، نازیان، روداد، کوټ، بتي‌کوټ، لعلپوره، مهمندره، ګوشته، دره‌نور، کوزکنړ، کامه، بهسود او د جلال‌اباد ښار څخه عبارت دي.

له دې جملې څخه څلور ولسوالۍ (شیرزاد، حصارک، خوګیاني او پچیراګام) سوړ اقلیم لري، یوولس ولسوالۍ (چپرهار، لعلپوره، مهمندره، بتي‌کوټ، غني‌خېل، رودات، کوزکنړ، کامه، بهسود، سرخرود او جلال‌اباد) تود اقلیم لري، او اته نورې ولسوالۍ (ګوشته، دره‌نور، کوټ، هسکه مېنه، دوربابا، نازیان، اچین او سپین‌غر) د سوړ او تود ګډ اقلیم لرونکې دي.

دښوونې او روزنې برخې ته د یاد ولایت د وګړو لاسرسی د پخوا په پرتله ښه شوی دی. ننګرهار ولایت901 بابه دولتي ښوونیز او روزنیز مرکزونه او ۳۸۲ بابه خصوصي ښوونیز مرکزونه لري. د دولتي بنسټونو له جملې څخه ۸۱٦ بابه د عمومي زده کړوښوونځي دي چې پکې ۳۰٦ بابه لیسې، ۱۳۲ بابه منځنې ښوونځي او ۳۷۸ بابه لومړني ښوونځي شامل دي.

د اسلامي زده کړو په برخه کې ٦۲ بابه مدرسې فعالیت لري، چې له دې ډلې ۱۹ بابه دارالحفاظونه او ٦ بابه دارالعلوم دي. همدارنګه، ۱٦ بابه د ښوونکو د روزنې ښوونتونونه، ٦ بابه د لیک لوست زده کړو ښوونځي، ۱ باب د شپې لېسه، ۲۰۳ بابه کلیوالي ښوونیز مرکزونه، ۹۴ بابه د چټکو زده کړوښوونتونونه او ۱۹۵ بابه دولتي او غیر دولتي د لیک لوست کورسونه په دې ولایت کې فعال دي.

په یادو ښوونیزو مرکزونو کې ټولټال 879.489تنه زده‌کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې له دې جملې څخه ۴۸۷، ۹٦۸ تنه نارینه او ۳۹۱، ۵۲۱ تنه ښځینه زده‌کوونکي دي.

د دې ولایت په مرکز، کلیو، باندېو او لرې پرتو سیمو کې د اوسېدونکو د ژوند او زده کړې کچه توپیر لري، چې شاوخوا ٦۰ سلنه وګړي په مرکزي او ښاري سیمو کې او ۴۰ سلنه وګړي په کلیوالي سیمو کې د زده کړې له نعمت څخه برخمن دي.

همدارنګه، ننګرهار ولایت یو دولتي پوهنتون لري چې د طب، انجینري، اقتصاد، حقوق، کمپیوټر ساینس، کرنې، وترنرۍ، ژبو او ادبیاتو، شرعیاتو، ساینس او د ښوونکو د روزنې پوهنځې پکې فعال دي. سربېره پر دې، یو شمېر

**غیر دولتي یا خصوصي پوهنتونونه لکه خراسان، آریانا، الفلاح، سپین‌غر، روښان، التقوا، امیرعلي شیرنوایي او تابش هم په دې ولایت کې په فعالیت بوخت دي.**

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین محمد وعلی آله و اصحابه اجمعین.**

**اما بعد:**

**د ۱۴۰۴ هـ ش کال عملیاتي پلان د ننگرهار ولایت د پوهنې ریاست له کاري اړتیاوو او لومړیتوبونو سره سم، د پنځو بنسټیزو پروګرامونو تر چتر لاندې ترتیب شوی دی، چې په کې اسلامي زده‌کړې، ښوونه او روزنه، د کیفیت تضمین، مالي او اداري چارې او د مقام دفتر شامل دي. دغه پلان د زده‌کړیز نظام د اوو اساسي عناصرو (زده‌کوونکی/شاګرد/سواد زده کوونکی، ښوونکی/استاد/معلم، نصاب، ښوونیزه ارزونه، ښوونیز چاپېریال، د ټولنې ګډون او مدیریت) پر بنسټ، د ولایت مرکز او ولسوالیوپه کچه طرحه او ترتیب شوی دی.**

**یاد عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د محترم مقام له لوري تر تأیید او منظورۍ وروسته، له اړوندو مسؤلینو سره شریک شوی او عملاً تر تطبیق لاندې نیول شوی دی.**

**د راپور ورکولو او راپور ترلاسه کولو سیستم د اغېزمن مدیریت له مهمو اصولو څخه ګڼل کېږي، چې د ننگرهار ولایت د پوهنې ریاست په مرکز او ولسوالیو کې رامنځته شوی دی. د همدې سیستم له مخې، د یادو پلانونو د تطبیق او پرمختګ په تړاو منظم او دوراني راپورونه ترتیبېږي، چې تر تجزیې، تحلیل او توحید وروسته ترې ګټه اخیستل کېږي.**

**د راپورونو د ترلاسه کولو په موخه، د میاشتني او ربعوار راپور ورکولو فارمتونه ترتیب شوي دي. د راپور ورکولو کړنلاره او ټاکلي مهالویش له مخې، د عملیاتي پلان د تطبیق او پرمختګ میاشتني او ربعوار راپورونه د ولایت د مرکزي تشکیلاتو له آمریتونو او د ولسوالیو د پوهنې له آمریتونوڅخه ترلاسه کېږي، چې تر سمون او وروستۍ بڼې وروسته له اړوندو مسؤلینو سره شریکېږي.**

**د پلانونو د پرمختګ راپورونو او د پوهنې ریاست د لاسته راوړنو د وړاندې کولو په لړ کې، دا مهال د ننگرهار ولایت د پوهنې ریاست د ۱۴۰۴ هـ ش کال د عملیاتي پلان د تطبیق او پرمختګ د څلورمې ربعې راپور، په لاندې اوو بنسټیزو برخو کې ترتیب شوی او د راتلونکو کړنو لپاره وړاندې کېږي:**

**۱- د کړنو لنډیز**

**۲- د فعالیتونو تشریحي برخه**

**۳- له پلان څخه د باندې ترسره شوې کړنې**

**۴- تحلیل او پایله اخیستنه**

**۵- ستونزې او د حل لارې**

**٦- لګښتونه او بودیجه**

**۷- ملپاڼې**

## لومړۍ برخه

## د کړنو لنډیز

### 1.طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال

- د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، په ٦٣٢ بابه مدرسو کې ٢٤٬٢٦٢ تنه طالب‌العلمان جذب شوي، چې له ډلې یې ٤٬٤٧٨ تنه ښځینه دي. همدارنگه، په ٢٢٨ بابه دارالحفاظونو کې ٨٬١١٦ تنه طالب‌العلمان جذب شوي، چې له ډلې یې ٩٨٣ تنه ښځینه دي.
- د یاد آمریت له لوري، د دوربابا پوهنې آمریت پرته، د ننگرهار ولایت په ٢٢ ولسوالیو کې ټولټال ١٬١٠٠ تنه طالب‌العلمان د دارالعلومونو لیلیو (مبیت) ته جذب شوي دي، چې په هره ولسوالۍ کې ٥٠ تنه شامل دي.
- د ننگرهار ولایت اړوند د عمومي زده کړو د ښوونځیو په کچه، په ټولیز ډول ١١٦،١٨٩ تنه زده‌کوونکي نوي جذب شوي.
- د یاد ولایت په کچه ټولټال ٢٬٨٨٤ تنه د سواد زده‌کړې زده‌کوونکي جذب شوي، چې له دې جملې څخه ٢٬٣٧٢ تنه نارینه او ٥١٢ تنه ښځینه دي.

### 2. مدرس/استاد/ښوونکی

- د ساینس مدیریت له لوري د ساینس، ریاضیاتو، کمپیوټر او لابراتوار برخو د ٦٩ تنه ښوونکو (٦٦ نارینه او ٣ ښځینه) ته په ٢٩ بابه ښوونځیو کې روزنیز پروگرامونه دایر شوي دي.
- د ساینس عمومي مدیریت د مسلکي او علمي غړو له لوري، د ننگرهار ولایت په کچه ٢٨٩ تنه د ساینس او لابرانټ ښوونکي د ورتیا لوړولو په موخه روزل شوي دي.

### 3. نصاب

- د ساینس عمومي مدیریت له لوري، د یاد ولایت د ټولو ښوونیزو مرکزونو په کچه٣٦٤ ټوکه د تجربو لارښود کتابونه چې له دې ډلې ١٨٢ ټوکه مدرسینو او ١٨٢ ټوکه ښوونکو ته ویشل شوي دي.
- د یاد ولایت په کچه، ٢٣ بابه ښوونځیو ته ١٦١ قلمه د فزیک، کیمیا او بیولوژي وسایل د لابراتوارونو د تجهیر په موخه ویشل شوي دي.
- د ساینس عمومي مدیریت له لوري ١٥٨ ټوکه د ساینس او ریاضیاتو لارښود کتابونه د ټولو پوهنې آمریتونو اړوند ښوونیزو مرکزونو ته لیږدول شوي دي. همدارنگه، ١٤٬٣٧٩ تنه زده‌کوونکي د بیولوژۍ له موډلونو څخه برخمن شوي دي.
- ٣٤٬٨٣٥ ټوکه د عمومي زده کړو کتابونه او نور شته تدریسي لوازم د یومنظم میکانیزم له لارې د نشراتو عمومي مدیریت لخوا د ٢٣ پوهنې آمریتونو په کچه ویشل شوي دي.

### 4.ښوونیزه ارزونه

- د ۱۴۰۴ کال د نوي تعلیمي کال په پیل کې، ښوونځیو ته د ماشومانو د پراخ ګډون په موخه، د ولایت په کچه ۳، د اړوندو پوهنې آمریتونو په کچه ۱٦ او د ښوونیزو مرکزونو په کچه ۲٬۵۵۵ د عامه پوهاوي غونډې ترسره شوې دي.
- د خامسه دورې ۹۴۱ تنه فارغانو سندونه د اسلامي زده کړو آمریت له خوا ترتیب او د چاپ لپاره د پوهنې وزارت مقام ته استول شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د ۲۳ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند د ۳۱۹ تنو علمای کرامو د دولسم ټولګي او ۱۴۲ تنو علمای کرامو د څوارلسم ټولګي د سندونو او سویې تثبیت شوي دي.
- د یاد ولایت په کچه، د ۴٬۴۸۹ تنو طالب‌العلمانو څخه د سویې تثبیت ازموینه اخیستل شوې ده، چې په پایله کې د ۱٬۱۱۴ تنه د ثانوي (دولسم ټولګي) او ۵۵۸ تنه د مافوق ثانوي (څوارلسم ټولګي) په کچه بریالي شوي دي.

## 5. روزنیز چاپېریال

- د ساینس عمومي مدیریت له لوري ۴۷۹بابه ښوونځیو د لابراتوارونو اړتیاوې معلومې شوي چې له یادو ښوونځیوڅخه۱۱۵ بابه ښوونځي ایجاد او ۳۴۱ بابه ښوونځي تجهیزته اړتیا لري.
- د یاد ولایت په کچه، د عمومي زده کړو اړوند ښوونځیو ۱۳۷۲ بابه ټولګي ښوونکي نه لري, چې له دې ډلې ۲۸۸ بابه ټولګي د لېسې دورې, ۲۹۱ بابه ټولګي د منځنۍ دورې او ۷۹۳ بابه ټولګي د لومړنۍ دورې دي.

## 6. د ټولنې ګډون

- د سواد زده‌کړې برنامو د ښه تطبیق په موخه، د سواد زده‌کړې عمومي مدیریت له خوا د ولایت، ولسوالیو او کلیو او بانډو په کچه ۱۰۷غونډې ترسره شوې دي. همدارنګه، د یاد فعالیت د ښه پلي کېدو لپاره ۱۸ کمېټې په کلیوالي سیمو کې هم جوړې شوې دي.
- د کوار مؤسسې له لوري د ښار د پوهنې آمریت اړوند د سواد زده‌کړې پروګرام د پیاوړتیا په موخه د ۱۰٬۹۰۰ افغانیو معادل مرسته شوې ده.
- د همکارو موسسو په همکارۍ او د ودانیزو چارو په پلان کې د شوراګانو د مدیریت له لوري د یاد ولایت په کچه ٦٬٦۰٦٬۳۱٦ افغانیو په ارزښت مرستې جلب شوې دي.

## 7. مدیریت

- په دارالعلومونو کې ۷۲ تنه مدرسین، ۱۵ تنه مامورین او ۵ تنه اجیران په رسمي ډول ګمارل شوي دي.
- د نظم او ډسیپلین د څار په موخه ۵۳ ټیمونه (۳۳ څارندوی او ۲۰ څارنجونې) جوړ او د ښوونیزو مرکزونو څارنه یې ترسره کړې ده.
- د کولمو د چنجیو د محوه کولو په موخه، د روغتیاعمومي مدیریت له خوا د ۲۳ پوهنې آمریتونو اړوند ۸۱۰ بابه ښوونځي څارل شوي دي او د البندازول ګولیو د وېش او استفادې له لارې به زده‌کوونکي د کولمو له ناروغیو خوندي شي.

- د ښار، بهسودو، سره رود، کوټ او پچیراګام د پوهنې آمریتونو اړوند، ۱۷ د څارندوی او ترافیک ټیمونه رامنځته شوي دي، تر څو د نظم د تأمین او ترافیکي خوندیتوب چارې سمبالې کړي.

## د پام وړ ستونزې او حل لارې

### الف: ستونزې

1. د عملیاتي پلان ژر بدلون
2. د عملیاتي پلان ټارګیټونه (موخې) دقیقې او عملي نه دي .
3. په انلاین سیستم کې ثبت د کار حجم زیات کړی .
4. د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو د توحید او تحلیل د مسلکي غړو لپاره د ډیټا تحلیل د سافټویر (SPSS) ورکشاپونو نه ترسره کېدل .
5. د انټرنیټ او کریډیټ کارټ نشتوالی او د خپلو امکاناتو څخه کمه ګټه اخیستل .
6. د تدریسي کتابونو نشتون .
7. د اسلامي زده کړو د نهادونو ترمنځ د سیالۍ د امکاناتو نشتون .
8. د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیریت د تشکیل کمښت .
9. د سفریې د اجرا کېدو واټن باید کم شي .
10. د ټرانسپورټ نشتون .
11. د ښوونکو د روزنې او پراختیا د مسلکي غړو لپاره د ثابتې بریښنا نشتون .
12. د ساینس مدیریت لپاره د امکاناتو نشتون .
13. د بدني روزنې مدیریت لپاره د امکاناتو نشتون .
14. د صحت عمومي مدیریت لپاره د امکاناتو نشتون .
15. د څارندوي عمومي مدیریت لپاره د امکاناتو نشتون .
16. په ښوونځیو کې د څارندوي ښوونکو لپاره د خونې نشتون .
17. د څارندوي مدیریت د مسلکي غړو د تنقیص

### ب: وړاندیز شوي حل لارې

1. باید عملیاتي پلان ژر تغیر ونه مومي، ځکه راپور د پلان پر بنسټ جوړېږي، او بیا د راپور فارمټ برابرول، د ارقامو پرتله کول او د تغیراتو تشخیص کافي وخت غواړي او دا یوه ستونزمنه چاره ده .
2. د عملیاتي پلان ټارګیټونه (موخې) ځینې موارد د غوښتنې خلاف ډېر ټیټ او ځینې بیا ډېر لوړ ټاکل شوي دي .
3. که د انلاین سیستم ثبت د مرکز له لوري ترسره شي، غوره به وي؛ ځکه موږ ورته سافټ او هارډ کاپي دواړه په واک کې ورکوو. له بلې خوا، د ننګرهار ولایت اړوند د پوهنې آمریتونه، څلور مرکزي هستې برنامې او یو عمومي مدیریت لري، او همدارنګه نږدې ۲۵ مرستندویه مؤسسې راپورونه وړاندې کوي، چې دا وضعیت د ځینو چارو پر وخت ترسره کېدل ستونزمن کوي .
4. د څارنې، ارزونې او راپور د توحید او تحلیل مسلکي غړو لپاره د ډیټا تحلیل د سافټویر (SPSS) اړوند ورکشاپونه په لاره واچول شي .

5. د ننګرهار د پوهنې ریاست، په ځانګړي ډول د مرکزي هستې کارکوونکي، د خپلو رسمي دندو د ترسره کولو لپاره پیاوړي انټرنیټ ته اړتیا لري، خو شته انټرنیټ کافي نه دی. نو لازمه ده چې د انټرنیټ اسانتیاوې ورته برابرې شي، تر څو ورځنۍ چارې په مؤثر ډول ترسره شي او د کار څنډ رامنځته نه شي. همدارنګه د برنامو او ولسوالیو د راپور همکارانو ته د انټرنیټ او کریډیټ کارت امکانات برابر شي، تر څو د معلوماتو پر وخت شریکولو کې ترې ګټه واخیستل شي. د یادونې وړ ده چې د ولسوالیو او برنامو تشریحي راپورونه (۷۰–۹۰ پاڼې) څو ځله د فیډبک وروسته نهایي او تاییدېږي، چې د انټرنیټ او موبایل مصارف یې پر شخصي لګښت ترسره کېږي .
6. د اسلامي زده کړو د محترم معینیت له لوري د اسلامي زده کړو نهادونو ته تایید شوي نصاب کتابونه چاپ شي .
7. د اسلامي زده کړو د نهادونو ترمنځ د سیالۍ لپاره لازم امکانات برابر شي .
8. د اساسي او ثانوي زده کړو آمریت ته اضافي تشکیل او نور کارکوونکي ورکړل شي .
9. د رسمي کارونو د پر وخت ترسره کېدو لپاره د سفریې د اجرا په موخه له پخوانۍ کړنلارې څخه استفاده وشي .
10. د رسمي سفر کوونکو لپاره د ټرانسپورټ اسانتیاوې برابرې شي .
11. د ښوونکو د روزنې او پراختیا آمریت راپورونه او نورې رسمي چارې د ثابتې برېښنا د نشتون له امله له څنډ سره مخ دي؛ نو د رسمي چارو د ښه ترسره کېدو لپاره باید پایداره برېښنا ورته برابره شي، یا داسې کمپیوټرونه ورکړل شي چې د برېښنا د پرې کېدو وروسته هم ۲–۳ ساعته چارج وساتي .
12. د بااستعداده زده‌کوونکو د موندنې، تشویق او د اختراعاتو لپاره د ساینس عمومي مدیریت ته ځانګړې بودیجه او امکانات ورکړل شي .
13. د بدني روزنې د مدیریت فعالیتونه میداني او سپورتي دي، نو د مالي امکاناتو اړتیا ډېره ده؛ ځکه لوبډلو ته لباسونه، ورزشي وسایل، د میدان کرایه او نور لګښتونه ځانګړې بودیجې ته اړتیا لري .
14. د روغتیایي وسایلو او امکاناتو برابرول اړین دي .
15. د څارندوي ټیمونو د تجهیز لپاره لازم وسایل (د نارینه وو لپاره خولۍ، کمیس، پتلون او بوټان او د ښځو لپاره څپلۍ، کمیس او نور) د نظم او دسپلین د ښه تطبیق لپاره اړین دي، نو باید په واک کې ورکړل شي .
16. د څارندوي فعالیت د ښه نظم او دسپلین لپاره ترسره کېږي، نو د دوی د یونیفورم لپاره په ښوونځیو کې جلا خونې موجودې شي .
17. د څارندوي مدیریت په ۲۳ ولسوالیو کې ۴۸۹ فعال ټیمونه لري، نو د دې ټیمونو د څارنې لپاره د مسلکي غړو اړتیا ډېره ده او باید ورته زمینه برابره شي.

## دویمه برخه

## د عناصرو او برنامو پر بنسټ د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی

### برنامه 1: اسلامي زده کړې.

### 1.1 طالب العلماو حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی

1.1.1 لومړيتوب: د زده‌کړو په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه راستنېدونکو او داخلي بېځايه شوو لپاره د شمولیت د زمینې برابرول

1.1.1.1 فعالیت: په مدرسو او دارالحفاظونوکې د طالب العلمانو جذبول

د ۱۴۰۴ مالي کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د ننګرهار ولایت اړوند په ٦٣٢ بابه مدرسو کې 264, 24 تنه طالب العلمان جذب شوي، چې له دې ډلې ۱۹,۷۷۵ نارينه او ۴,۴۸۷ ښځينه دي. همدارنګه، په ۲۲۸ دارالحفاظونو کې ۸,۱۱٦ تنه جذب شوي، چې له دې ډلې ۷,۱۳۳ نارينه او ۹۸۳ ښځينه دي، چې د یاد جذب په ترسره کېدو سره طالب العلمانو ته د اسلامي زده کړو فرصت برابر شوی دی، د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۳ مې ګڼې ملپاڼې ته مراجعه وکړئ.

1.1.1.2فعالیت: په دارالعلومونوکې دشمولیت زیاتوالی

د ۱۴۰۴ هـ.ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د پوهنې ریاست اړوند د سرو او ګرمو سیمو دارالعلومونو کې د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د طالب‌العلمانو جذب ترسره شوی، چې له مخې یې ۳۵۵ تنه په لومړي ټولګي، ۷۷۹ تنه له لومړي تر دریيم ټولګي، ۱,۲۱۸ تنه له څلورم تر شپږم ټولګي، ۲,۰۸۸ تنه له اووم تر نهم ټولګي، ۱,۲۵۵ تنه له لسم تر یوولسم ټولګي، او ۸۹۵ تنه له دولسم تر څوارلسم ټولګي جذب شوي دي.

1.1.1.3.فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د مرکزونو په مبیت (لیلیه) کې جذب شوي طُلاب

د ۱۴۰۴ هـ.ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د دوربابا پوهنې آمریت پرته، د ننګرهار ولایت اړوند په ۲۲ ولسوالیو کې ۱,۱۰۰ تنه طالب‌العلمان، چې په هره ولسوالی کې ۵۰ تنه شامل دي، د دارالعلومونو لیلیو (مبیت) ته جذب شوي دي.

1.1.2 لومړيتوب: د قران کریم د سپاليو په لاره اچول

1.1.2.1فعالیت: دولایت په کچه دقرانکریم دسیالیوپه لاره اچول

نوموړی فعالیت د ننګرهار ولایت د پوهنې ریاست په کچه په نوي اصلاح شوي عملیاتي پلان کې حذف شوی.

1.1.3 لومړيتوب: د شهادتنامو وېش

1.1.3.1فعالیت: دثانوي اومافوق ثانویه دورې له طالبالعلمانوڅخه ازموینه اخیستل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پایه، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د ګمارل شوي هیئت په واسطه د کړنلارې له مخې له ۴'۴۸۹ تنو څخه تقریري ازموینه اخیستل شوې ده. د ازموینې له اخېستل کېدو وروسته د ۱'۱۱۴ تنو د ثانوي (دولسم ټولګي) او ۵۵۸ تنو د مافوق ثانوي (څوارلسم ټولګي) بریالیو زده‌کوونکو شهرت‌جدولونه ترتیب او د مراحلو د طی کولو په موخه وزارت ته د ۱۴۴۷/۴/۱۸ نېټې د ٦٧۴ شمېرې مکتوب له لارې لېږل شوي وو. وروسته د بریالیو طالب‌العلمانو پایلې د ننګرهار د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت ته د ۱۴۴۷/۴/٦۰۲۳۰ شمېرې لیک په اساس راولېږل شوې او د تحریري ازموینې پروسه یې د مرکز له لوري ترسره کېږي.

1.1.3.2فعالیت: دخامسه اوحفظ فارغانولپاره دفراغت اسناداووېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له‌خوا، د ننګرهار اړوند د ۲۳ پوهنې آمریتونو په کچه د خامسه او حفظ دورو ۱۱۵۴ تنه فارغان تثبیت او د هغوی د فراغت سندونه ورته ویشل شوي.

1.1.4 لومړیتوب: د شهادت نامو چاپ او وېش

1.1.4.1 فعالیت: دعالیه دورې دشهادتناموچاپ اووېش

د۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عالیه دورې فارغانو لپاره د اسلامی زده کړوآمریت له خوا د ۲۳ پوهنې آمریتونو اړوند۴۰۰ تنو ته، چې له ډلې یې۲۳۱تنه نارینه او ۱۶۹تنه ښځینه طالب العلمان وو دفراغت سندونه ویشل شوي دي.

1.2 مدرس / استاد/ښوونکی

1.2.1 لومړیتوب: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

1.2.1.1فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد فعالیت په اړه د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د ولایت، ولسوالیو او د مدارسو په کچه د ۹۰ سلنه لارښوونې ترسره شوې دي.

1.2.1.2فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او د دارالعلومونو او مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد فعالیت په اړه د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د ولایت، ولسوالیو او د مدارسو په کچه ۹۰ سلنه لارښوونې ترسره شوې دي.

1.2.2 لومړیتوب: د څلورمې دورې/ صنفي اصولو لپاره د استاد د توظیفولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

1.2.2.1فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد فعالیت په اړه د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د ولایت، ولسوالیو او د مدارسو په کچه د ۸۵ سلنه لارښوونې ترسره شوې دي.

1.2.2.2فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او دارالعلومونو او مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد فعالیت په اړه د اسلامي زده کړو آمریت له خوا ننګرهار ولایت اړوند په مدارسو او دارالعلومونو کې۱۰۰ سلنه لارښوونې ترسره شوې دي.

1.2.3لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو په تشو بستونو کې د رشتې سره سم د مسلکي مدرسینو په وخت ګمارل

1.2.3.1 فعالیت: د کړنلارې له مخې د مرکز او ولایتونو په کچه په خالي بستونو کې د خپل مسلک مطابق له مسلکي مدرسینوڅخه د ازموینې اخیستل.

د ۱۴۰۴کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د خپلې رشتې سره سم د ښوونکو د ګمارنې په موخه د ننګرهار ولایت د اسلامي زده کړو آمریت له‌خوا د ۶۰ خالي بستونو لپاره د ګمارنې ازموینه ترسره او بریالي کسان پکې ځای شوي دي، د یادې ګمارنې په پایله کې په تدریسي بهیر کې ښه والی راغلی دی.

1.2.4لومړیتوب: د علمي کادر اجرا کول

1.2.4.1 فعالیت: د دارالعلومونو د ښوونکو د علمي کادر او علمي رتبې اجراء کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له کبله نه دی ترسره شوی.

1.2.5 لومړیتوب: د نویو ګمارل شوو ښوونکو او مدیرانو د وړتیاوو لوړول او مسلکي پراختیا

1.2.5.1 فعالیت: په هغو دارالحفاظونو او مدرسوکې چې د حفظ شعبې لري د حفظ ښوونکو لپاره سمينار وړاندې کول

د ۱۴۰۴کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د بودیجې د نشتون او د همکارو ادارو د نه همکارۍ له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

1.2.6لومړیتوب: د ولایتونو او ولسوالیو د ښوونکو مسلکي پراختیا غړو ته ورکشاپونو دایرول

٦.١ فعالیت: د ښوونکو مسلکي پراختیا غړو ته د ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړې معینیت څخه د راغلي هیئت له لوري د اسلامي زده کړې امریت اړوند ۸۳ تنه د ښوونکو مسلکي غړو ته د تدریس او د مدرسینو د ارزونې په برخه کې ورکشاپ ورکړل شوی دی.

1.2.7 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو په ښوونیزو مرکزونو کې د مدرسینو او ښوونکو د ارزونې څېړنه

1.2.6.1 فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو له لوري د مدرسینو او ښوونکو د ارزونې څېړنه

د ۱۴۰۴کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مدرسینو او ښوونکو د ارزونې څېړنې په موخه، د اسلامي زده کړو آمریت په نوښت او د معینیت له‌خوا رالېږل شوي هیئت له لوري، په ۲۳ پوهنې آمریتونو کې ٦٧٢ تنو مدرسینو ارزونه ترسره شوې، د یادې ارزونې په پایله کې د نومړو مدرسینو اړتیاوې تثبیت شوي، او په اړه یې سیمینارونه ورکړل شوي دي، چې په دې سره د ګډونوالو ښوونکو ظرفیت لوړ شوی دی.

1.2.7لومړیتوب: په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړو څخه څارنه

نظارت از فعالیت های اعضای انکشاف مسلکی مدرسین ولایات

یاد فعالیت د مرکز پورې تړاو لري، او د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار ولایت په کچه نه دی ترسره شوی.

1.2.8 لومړیتوب: له ولایتونو څخه د راغلو راپورونو تحلیل او تجزیه

1.2.7.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا غړو د رارسېدلو راپورونو تحلیل او تجزیه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، اراپور د اسلامي زده کړو آمریت د ښوونکو مسلکي پراختیاعلمی غړو له خوا تحلیل او ترتیب شویدی.

1.3 نصاب

1.3.1 لومړیتوب: د مرکز، ولایت او ولسوالی په کچه د ښوونیزکال له پیل مخکې د ښوونیزو مرکزونو د اداري کتابونو وېش

1.3.1.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د ۸ عنوانه تدوین شوو کتابونو تشریح او لاربښوونه

د ۱۴۰۴کال د څلورمې ربعی تر پای پورې، پورته یاد شوي کتابونه د ننګرهار د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د اړوند ولسوالیو د مسلکي پراختیا مدرسینو ته د سمینار له لارې تشریح او په مکتوبي ډول ورسره شریک او ویشل شویدی، چې په مجموعي ډول ۲۰۴۴ د طالب العلمانو د حاضرۍ کتابونه، ۲۰۳۵ د ترقي تعلیم کتابونه، ۱۰۹ د سه پارچې کتابونه، ٦٣ د اداري پرسونل د حاضرۍ کتابونه او ٦٦ د اخراج/ اساس کتابونه ویشل شوي دي. *لا زیاتو معلوماتو لپاره د ۴ نمبر ملیاتې ته مراجعه وکړی!*

1.3.2 لومړیتوب: د دیني مدرسو د ښوونیز نصاب مطابق د اسلامي زده‌کړو معینیت د ښوونیزو مرکزونو لپاره د درسي کتابونو پېرل

1.3.2.1 فعالیت: د دیني مدرسو د نصاب مطابق د درسي کتابونو وېش

د ۱۴۰۴کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ديني مدرسو د نصاب کتابونه د پوهنې وزارت له خوا د ياد پوهنې رياست سره شريک شوي نه دي، نو له دې کبله ياد فعاليت ترسره شوی نه دی.

### 1.4 ښوونيزه ارزونه

**1.4.1 لومړيتوب: د علماء کرامو د اسنادو ارزونه او د سويې تثبيتول**

**1.4.1.1 فعاليت: د مرکز او ولايتونو په کچه د دوولسم ټولګي او څوارلسم ټولګي د علماء کرامو د سويې تثبيتول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دولسم د او څوارلسم ټولګيو د علماء کرامو د سندونو ارزونې او د سويې د تثبيت په موخه، د اسلامي زده کړو د آمريت له خوا د ۳۱۹ تنو د دولسم ټولګي په کچه او ۱۴۲تنو د څوارلسم ټولګي په کچه سندونه تثبيت شوي دي.

**1.4.2 لومړيتوب: د ولايتونو په کچه د ګډې ازموينې اخيستل**

**1.4.2.1فعاليت: د ثانويه مرحلې، (د ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ګډه ازموينه اخيستل**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې ، تر پای پورې، د خامسه دورې د ۹۴۱ تنو فارغانو څخه چې نوم ليکنه چې مخکې ترسره شوې وه، د اسلامي زده کړو معينت د راغلي هيئت په حضور کې ازموينه واخيستل شوه چې د اسلامي زده کړو آمريت لهخوا د ازموينې پارچې د رقم الجلوس سره يو ځای ترتيب او د پوهنې وزارت محترم مقام ته واستول شوې.

**1.4.2.2 فعاليت: د فوق ثانويه مرحلې، (د سادسه او سابعه) درجو ګډه ازموينه اخيستل**

د ۱۴۰۴ کال په څلورمه ربعه کې، د فوق ثانويه دورې د ۴۸۳ فارغانو څخه چې نوم ليکنه يې چې مخکې ترسره شوې وه، د اسلامي زده کړو معينت د راغلي هيئت په حضور کې ازموينه واخيستل شوه، چې د اسلامي زده کړو آمريت لهخوا د ازموينې پارچې د رقم الجلوس سره يو ځای ترتيب او د پوهنې وزارت محترم مقام ته واستول شوې.

### 1.5 ښوونيز چاپيريال

**1.5.1 لومړيتوب: په مرکز او ولايتونوکې د مدرسو رامنځته کول**

**1.5.1.1 فعاليت: د نارينه طالب العلمانو لپاره د ديني مدرسو رامنځته کول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د نوو مدرسو تأسيس د اسلامي زده کړو معينيت د۱۴۴۷/۲/۱۱نېټې د ۳۰۸ ګڼې رسمي مکتوب پر بنسټ تر امر ثاني پورې ځنډول شوی، له همدې امله ياد فعاليت نهدی ترسره شوی.

**1.5.2 لومړيتوب: د اسلامي زدهکړو د رسمي مرکزونو رامنځته کول، د نوم بدلول، ارتقاء، د نوعيت بدلون اوښيت رامنځته کول**

**1.5.2.1فعاليت: په۳۴ ولايتونوکې د ليليې رامنځته کول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ليليې د رامنځته کېدو په اړه د پوهنې جليله وزارت لهخوا د ننګرهار د پوهنې رياست د اسلامي زده کړو آمريت ته هېڅ رسمي مکتوب نهدی رارسېدلی.

**1.5.2.2فعاليت: د اسلامي زدهکړو د نويو ښوونيزو مرکزونو تأسيسول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښار د پوهنې آمريت اړوند علوم القران، االهجرتُ الجهاد) او د خوږيانو د پوهنې آمريت اړوند روضة اسلام په نومونو ديني ښوونيز مرکزونه تاسيس شوي دي.

**1.5.2.3فعاليت: داسلامي زدهکړو د ښوونيزو مرکزونو د نوعيت بدلون**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت ته د ښوونيز مرکز د نوعيت د بدلون په اړه غوښتنه نهده شوې، له همدی امله نوموړی فعاليت ترسره شوی نه دی.

1.5.2.3فعالیت: داسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوعیت بدلون

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت ته د ښوونیز مرکز د نوعیت د بدلون غوښتنه نه‌ده شوې، له همدی امله نوموړی فعالیت ترسره شوی نه دی.

1.5.2.4 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوم بدلون

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده‌کړو آمریت اړوند د خوګیانو د پوهنې آمریت یو ښوونیز مرکز، د اسلامي زده‌کړو د محترم معینیت د ۱۴۴۷/٦/٢٧٧٥٣ ګڼې مکتوب له مخې، د حضرت ابوعبیده (رض) بن جراح په نوم ونومول شو.، ، ( 1.5.2.5فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسې لوړېدل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت څخه د مدرسې دارالعلوم درجې ته د لوړولو په اړه غوښتنه نه‌ده شوې، له همدی کبله نوموړی فعالیت ترسره شوی نه دی.

1.5.2.6فعالیت: د ارالعلوم ته د ارتقاء لپاره د مدرسو څېړنه

د ۱۴۰۴کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، خو د یوې مدرسې او دارالعلوم په اړه وړاندیز شوی و، خو کړنې یې نهایي نه شوې.

1.6 د ټولنې ګډون

1.7 مدیریت

<u>1.7.1 لومړیتوب: د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل</u>

1.7.1.1 فعالیت: د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړوآمریت له‌خوا په بېلابېلو پوهنې آمریتونوکې د ۵۲ تنه آمرینو، ۷۲ تنو ښوونکو، ۱۵ تنو مامورینو او ۵ تنو اجیرانوڅخه ازموینه اخیستل شوېده او د ګمارنې چارې یې د ترسره کولو په موخه د کارکوونکو چارو عمومی مدیریت ته استول شوې دي.

<u>1.7.2لومړیتوب: د اسلامی زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تشکیلاتو د اړتیاوو د رفع کولو لپاره د بستونو وېش</u>

1.7.2.1 فعالیت: هغو مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد چې بست ته اړتیا لري

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښار د پوهنې آمریت اړوند دوه باب مدرسو (دارالایمان او محمدیه) ته د دیني علومو درې ـ درې بستونه ورکړل شوي دي.

، ، ، <u>1.7.3 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تأسیس لپاره د بستونو وېش</u>

1.7.3.1 فعالیت: جدیدالتأسیس مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد

د ۱۴۰۴ کال د څلورمی ربعې تر پای پورې، د ښار د پوهنې آمریت اړوند دوه بابه جدید التأسیس مدرسو ۵ بسته (علوم القران ته ۲ او الهجرت الجهاد ته ۳) ور کړل شوي دي او همدارنګه د خوږیانو د پوهنې آمریت اړوند یو باب جدیدالتأسیس مدرسې (روضة اسلام) ته ۴ بسته) ورکړل شوي دي.

برنامه 2: ښوونه او روزنه

2.1 زده کوونکی

<u>2.1.1 لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو د پراخه شمولیت او زده‌کړې لپاره عامه پوهاوی</u>

2.1.1.1 فعالیت: د ۱۴۰۵ ښوونیزکال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دایرولو په موخه د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او د ښوونیزو مرکزونو د شوراګانو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له‌خوا د ولایت په کچه د پوهنې اړوند آمریتونو، ښوونیزو مرکزونو مسؤلینو، د والدینو شوراګانو او د مساجدو امامانو په همکارۍ عامه پوهاوی ترسره شوی، چې دا فعالیت په ولایتي کچه ، د آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه ٪۱۰۰ تطبیق شوی. یاد پوهاوی د ۱۴۰۵ تعلیمي کال لپاره د زده‌کړو د پراخ ګډون، ښې همغږۍ او اغېزناک تطبیق زمینه برابره کړې ده.

### 2.1.1.2 فعالیت: د مرکز، ولایتونو، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې په جریان کې، د نوي تعلیمي کال لپاره د ماشومانو د پراخ ګډون په موخه د مساجدو، شوراګانو، علمي غړیو او ښوونیزو مرکزونو په همکارۍ، د ولایت په کچه ۳، د پوهنې آمریتونو په کچه ۱۶، او د ښوونیزو مرکزونو په کچه ۲۵۵۵ د عامه پوهاوي غونډې ترسره شوې دي. که څه هم د بودیجې او امکاناتو د نشتون له امله تصویري او غږیزې برنامې نه دي چمتو شوې، خو یادو هڅو د عامه پوهاوي، همغږۍ او تعلیمي چارو د ښه تطبیق لپاره مثبت اغېز درلود.

### 2.1.1.3 فعالیت: د ښوونځیو د شوراګانو له کړنوڅخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ۸۴۳۳ ښوونیزو شوراګانو کړنې څارل شوې دي، د څارنې پایلو له مخې، د شوراګانو فعالیتونه ارزول شوي، ستونزې یې تشخیص شوې او د ښوونیز بهیر د کیفیت د لوړولو لپاره لازمه زمینه برابره شوې ده.

### 2.1.1.4 فعالیت: دېلابېلو کچو په سرو او تودو سیموکې لارښوونه او د عامه پوهاوي برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له خوا د عامه پوهاوي په موخه د ولایت، پوهنې آمریتونو او ټولو ولسوالیو اړوند ښوونیزو مرکزونو کې ۱۰۰ سلنه عامه پوهاوی ترسره شوی دی. د دې فعالیت له امله د پوهنې په برخه کې د خلکو عامه پوهاوی لوړ شوی، د زده‌کړو ارزښت ته د خلکو ذهنیت مثبت شوی.

### .2.1.1 فعالیت: د غږیزو او انځوریزو رسنیو له لارې د عامه پوهاوي پیغامونو خپرول او د تبلیغاتي بروشرونو او پاڼو چاپول

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې جلیله وزارت د نشراتو ریاست له خوا د عامه پوهاوي بروشرونه او تبلیغاتي پاڼې د یاد پوهنې ریاست ته نه دي را استول شوي، نو له همدې امله دا فعالیت نه دی عملي شوی. خو د غږیزو او انځوریزو رسنیو له لارې د سواد زده‌کړې په اړه پیغامونه خپاره شوي، چې له مخې یې خلکو ته د سواد زده‌کړې اهمیت، ګټې او د ګډون لارې چارې ور وپېژندل شوې. دغه کار د ټولنې د بې‌سواده وګړو د هڅونې، د سواد زده‌کړې پروګرامونو ته د خلکو د جذب او د ښوونې ارزښت د پراخ پوهاوي لپاره اغېزناک بلل شوی دی.

### 2.1.2.لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

### 2.1.2.1 فعالیت: په ټولو ښوونیزو مرکزونوکې د زده‌کوونکو غیرحاضري او د زده‌کړې پرېښودل ۲ سلنه ټیټوالی مومي

د ننګرهار ولایت په کچه په نوي اصلاحي عملیاتي پلان کې نوموړی فعالیت حذف شوی دی.

### 2.1.2.2 فعالیت: د لومړنۍ دورې د جدیدالشمولانو جذبول

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیریت له لورې، د ټولو پوهنې آمریتونو په کچه د سړو سیمو په ښوونځیو کې ټولټال ۱۳،۸۹۶ تنه (۷۶۷۴ نارینه،

۶۲۲۲ ښځینه) زده‌کوونکي او همدارنګه د تودو سیمو په ښوونځیو کې ۱۰۲،۹۹۳ تنه (۵۴۲۰۰ نارینه ، ۴۸۷۹۳ ښځینه) جذب شوي دي، چې په دې سره د ټول ولایت په کچه ټولټال جذب ۱۱۶،۸۸۹ تنو زده کوونکو ته رسیږي. دا جذب د ښوونیز بهیر د پراخوالي، زده‌کړو ته د لا زیات لاسرسي سبب ګرځیدلی دی.

**2.1.2.3 فعالیت: په لومړنۍ، منځنۍ او لېسه دوروکې د ټولګي د تثبیت او سویې ازموینې له لارې د مجاهدینو، راستنېدونکو، تر لندمهاله ښوونې لاندې او سوابقو راوړونکو جدیدالشمولانو جذبول**

د ۱۴۰۴کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، په لومړنۍ، منځنۍ او لېسې دورو کې تر لنډمهاله ښوونې لاندې او سوابقو راوړونکو جدیدالشمولانو د جذبولو په موخه، داساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیریت له خوا۱۲۴۰تنه د لمړنۍ دورې، ۲۰۷۷ د منځنۍ دورې او ۳۳۶۲ تنه د لېسې دورې جدیدالشمولان زده کوونکي جذب شویدي، .

**2.1.2.4 فعالیت: د کوچیانو د جدیدالشمولانو زده‌کوونکو جذبول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د سره رود د پوهنې آمریت له لوري، د دوو کوچیانو ټولګیو ته ۱۰۰ تنه نوي شامل کېدونکي زده کوونکي (۴۵ هلکان او ۵۵ انجونې) جذب شوي دي.

**2.1.2.6 فعالیت: له پولې بهر راستنېدونکو او مجاهدینو د ښوونیزو اسنادو نه لرونکو متقاضیانو د ټولګي تثبیت**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له خوا د ۱۸۶۸۹ تنو څخه د تثبت صنف ازموینه اخیستل شوې ده، چې له دې ډلې څخه ۱۲۴۸۵ تنه د خپلې سویې له مخې ټولګیو ته جذب شوي دي.او د مجاهدینو ازموینې په اړه د مرکز له لوري حکم نه دی راغلی او نه هم د مجاهدینو له خوا په دې اړه غوښتنه شوې ده، ځکه نوموړی فعالیت ترسره شوی نه دی.

**<u>2.1.3لومړیتوب: د زده کړو په شرایطو برابرو لویانو لپاره د شمولیت د زمینې برابرول</u>**

**2.1.3.1 فعالیت: له اړوندو مرکزونو سره په همکارۍ د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې محل کې په شرایطو برابرو ټولو لویانو د نوملړ چمتوکول؛**

د۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د زده کړو په شرایطو برابرو لویانو لپاره د شمولیت د زمینې برابرولو په موخه د عمومي زده کړو آمریت له خوا د رسمي ښوونکو ) له لارې د سواد زده کړې په ۱۸۳ کورسونو کې ۲۸۸۴ تنه (۲۳۷۲ تنه نارینه او ۵۱۲ تنه ښځینه) جذب او تر تدریس لاندې نیول شوي دي همدارنګه ۱۳۹ تنه زده کوونکي د حیاتي سواد په ښوونځیو کې زده کړې کوي.

**2.1.3.2 فعالیت: د کوچیانو په شرایطو برابرو لویانو شمولیت؛**

د څلورمې ربعې تر پای پورې، د سواد زده کړې عمومي مدیریت له لوري د رسمي اضافي بستونو له لارې د ۸۵تنه کوچې زده کوونکو ته د زده کړې تر لاسه کولو په موخه۴ بابه د سواد زده کړې کورسونه رامنځته شوي دي، چې ۸۵ تنه زده کوونکي پکې زده کړې کوي.

**2.1.3.3 فعالیت: دجوماتونو د ملا امامانو له لارې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**

د۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، په شرایطو برابرو لویانو د ګډون په موخه، ۴۱۷ تنه هغه زده کوونکي چې ښوونځۍ یې پرېښي وو د جوماتونو د ملا امامانو له لوري بیاځلي ته شامل شوي، د یاد فعالیت ترسره کېدو په پایله کې په شرایطو برابرو لویانو ته د زده کړې زمینه برابره شوه.

**2.1.3.4 فعالیت: د سواد زده‌کړې په کورسونو، حیاتي سواد او حرفوي ښوونځیوکې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د سواد زده کړو عمومي مدیریت له خواپه شرایطو برابر ۲.۱۷۵ تنه د سواد زده کړې په کورسونو کې شامل شوي دي. د حرفوي سواد ښوونځیو ښوونکي د ننګرهار د پوهنې ریاست د

کار کوونکو دچارو مدیریت د ۱۴۴۷/۴/۴نېټې د پرېکړې او د پوهنې جلیله وزارت د دفترعمومي ریاست د ۱۴۴۷/۳/۱۲ نېټې د ۷۷۸ګڼه لیک پر بنسټ تنقیص او ښوونځي یې غیر فعال شوي دي.

2.1.3.5 فعالیت: په حیاتي او حرفوي ښوونځیوکې د موجودو لویانو لپاره د زده‌کړې د زمینې برابرول

د حرفوي سواد ښوونځیو ښوونکي د ننګرهار د پوهنې ریاست اړوند د کار کوونکو د چارو مدیریت د ۱۴۴۷/۴/۴ نېټې د پرېکړې او د پوهنې جلیله وزارت د دفتر عمومي ریاست د ۱۴۴۷/۳/۱۲ نېټې د ۷۷۸ګڼه لیک پر بنسټ تنقیص او ښوونځي یې غیر فعال شوي دي، نو ځکه یاد فعالیت ترسره شوی نه دی.

2.1.3.6 فعالیت: د راستنېدونکو او داخلي بې ځایه شوو شمولیت

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، په شرایطو برابرو لویانو د شمولیت لپاره د زمینې د برابرولو په موخه ۵۸۹۱ تنه راستنیدونکي او ۴۳۴۷ تنه بې ځایه شوي لویان د عمومي زده کړو د آمریتله خواد ننګرهار د پوهنې ریاست اړوند په مختلفو ښوونځیو کېشامل شوي دي. تر څو راستنېدونکي او بې ځایه شوو لویانو تهد زده کړې د بشپړیدو زمېنه برابره شي او زده کړې یې نیمګړې پاتې نه شي.

2.1.4 لومړیتوب: د روغتیایی مرکزو په مرسته د جدیدالشمولانو د روغتیا په ځانګړې توګه د اورېدلو، لیدلو، ژامو، خولې، غاښونو او ساري ناروغیو د معایناتو څخه ډاډ ترلاسه کول

2.1.4.1 فعالیت: د جدیدالشموله زده‌کوونکو له روغتیایي سموالي څخه ډاډ

دکال دڅلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د پوهنی ریاست اړوند د ښار، بهسودو، سرخرود اوحصارک د پوهنې آمریتونو د روغتیا عمومي مدیریت له لورې، ۱۸۱۰تنه جدید الشمول زده کوونکي د روغتیایي حالت څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه معاینه شوي دي، چې دا کار د زده‌کوونکو د احتمالي ناروغیو د مخنیوي، د وختي درملنې، او د ښوونیز چاپېریال د روغتیا ساتنې لپاره ګټورو.

2.1.5 لومړیتوب: په ښوونځیوکې د اوبو، روغتیاساتنې، نظافت(WASH) د برنامو تطبیق او د لومړنیو مرستو د کیتونو او تبلیغاتي روغتیایي موادو وېش

2.1.5.1 فعالیت: د زده‌کوونکو او ښوونکو لپاره د پوهاوي ورکولو روغتیایي برنامو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د روغتیا مدیریت له خوا د نظافت او حفظ الصحې په اړه د عامه پوهاوي په پایله کې دبهسودو د پوهنې آمریت اړوند ۱۳۰۰ تنه زده کوونکي او ۴۲ تنه ښوونکي، د ښار د پوهنې آمریت اړوند ۱۷۰۰ تنه زده کوونکي او ۵۵ تنه ښوونکي، د حصارک د پوهنی آمریت اړوند ٦۰۰تنه زده کوونکي او ۱۳ ښوونکی چې جمله ۳٦۰۰ زده کوونکي او ۱۱۰ تنه ښوونکي کېږي، د نظافت او حفظ الصحې په اړه د عامه پوهاوي څخه برخمن شوي دي. چې دا فعالیت د ښوونځیو چاپېریال ته د روغتیایي ارزښتونو د رسولو، د زده‌کوونکو او ښوونکو د عامه پوهاوي د لوړولو او د ښوونیزو خدماتو د کیفیت د ښه‌والي په برخه کې یو مهم ګام ګڼل شوی دی.

2.1.5.1 فعالیت: د روغتیایي تبلیغاتي موادو، د حفظ الصحې او نظافت کیتونو او لومړنیو مرستو وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د تبلیغاتي موادو او لومړنیو کیتونو په برخه کې، نه د همکارو مؤسسو له خوا مرسته شوې او نه هم د پوهنې له جلیله وزارت څخه د ننګرهار د پوهنې ریاست ته کوم امکانات سپارل شوي دي.

خو د کوار مؤسسې له خوا، د ښار د پوهنې آمریت اړوند۷۳٦ تنو، د بهسودو د پوهنې آمریت اړوند۸۹٦ تنو، او د ښېوې د پوهنې آمریت اړوند٦۸۲ تنو زده‌کوونکو ته، چې مجموعاً ۲۳۱۴ تنه کېدوال زده‌کوونکي کېږي، د هایجین کیټونه ویشل شوي دي.

همدارنګه، د همدې مؤسسې له خوا، د ښار د پوهنې آمریت اړوند د بی‌بی زینب او ننګرهار عالي لېسو۱۰۰ تنو ښوونکو ته د هایجین کیټونه، او ۴۰۰ تنو زده‌کوونکو ته د لاس مینځلو صابونونه ویشل شوي دي.

برسېره پر دې، د عامې روغتیا ریاست له خوا ۲۰۰۰ دانې د ډینګې د ناروغۍ عامه پوهاوي ورقې د ښار او مهمندرې د پوهنې آمریتونو اړوندښوونځیو او د پوهنې ریاست کارکوونکو ته ویشل شوي دي.

دیاد فعالیت له تطبیق سره، زده‌کوونکي د سالمې روغتیا له شرایطو برخمن شوي، او د ناروغیو له امله د غیر حاضریو کچه راټیټه شوې ده.

<u>2.1.6 لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیو کې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو چینجیو د له منځه وړلو سراسري کمپاین</u>

2.1.6.1 **فعالیت:** د ښوونځیو د کچې ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو ضد ټابلېټو وېش

د روغتیا عمومي مدیریت له خواد کولمو چنجیو له منځه وړلو په موخه، هر کال یو ځل د البندازول ټابلېټویشل کیږي، او د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد ټابلیټونو د مرکز له خوا د یاد پوهنې ریاست په واک کې نه دي ورکړل شوي.

<u>2.1.7 لومړیتوب: د ښوونځیو په کچه د سیالیو په لاره اچول او د ورزشي څېرو پېژندنه</u>

2.1.7.1 **فعالیت:** په مرکز او ولایتونوکې د پوهنې د منتخبو ټیمونو د غوراوي لپاره په ښوونځیوکې د پسرلنیو او خزاني، مناسبتي او دوستانه سیالیو په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ورزشي څېرو د پیژندنې په موخه د ننګرهار د پوهنې ریاست د بدني روزنې د مدیریت لخوا ۴ د کرکټ او والیبال سیالۍ پر لاره اچول شوي دي، د یاد فعالیت په ترسره کېدو سره د زده کوونکو تر منځ صمیمانه فضاء رامنځته، د روغ صحت څخه برخمن او د نشه یي مواد او بې ارزښته وخت تېرولو څخه وژغورل شول.

2.1.7.2 **فعالیت:** په ملي او نړۍ‌والو سیالیوکې د پوهنې د منتخبو ټیمونو د ورزشکارانو ګډون

یاد فعالیت د پوهنې جلیله وزارت پورې تړاو لري او د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، نوموړی فعالیت د یاد ولایت د پوهنې ریاست په کچه نه دی ترسره شوی.

<u>2.1.8 لومړیتوب: په خصوصي مرکزونوکې د ښوونې او روزنې د زمینې برابرول</u>

2.1.8.1 **فعالیت:** د هغو زده‌کوونکو د درې‌کلنو نمرو ترتیبول او ژباړل چې د زده‌کړې د ادامې په موخه له هېواده بهر سفرکوي

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، ۳۰۰تنو فارغو زده کوونکوو ته، چې د بهرنې بورسونو لپاره یې نوملیکنه ترسره کوله، د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له خوادرې کلنې نمرې په ملي او انګلسي ژبو تائید شوې دي.

2.1.8.2 **فعالیت:** د اړوندو قوانینو او لارښودونو مطابق د خصوصي ښوونیزو مرکزونو د زده‌کوونکو د تصدیق‌لیکونو اجرا کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د خصوصي ښوونځیو ۵۵۰ تنه زده کوونکو چې له دې ډلې، ۵۰ تنه د روداتو د پوهنې آمریت اړوند، ۱۳۰ د چپرهار د پوهنې آمریت، ۸۰ تنهد سره رود د پوهنې آمریت، ۱۰ تنه د اچین د پوهنې آمریت او۲۸۰تنه د ښار د پوهنې آمریت اړوند) تصدیقونه تر لاسه کړي دي، د یاد فعالیت د ترسره کېدو په پایله کې د خصوصي ښوونځیو زده کوونکي د تصدیق د حقوقو څخه برخمن شول.

2.1.8**فعالیت:** په خصوصي ښوونځیو او ښوونیزوکورسونوکې د یتیمو، بې وزله ماشومانو، د شهیدانو ورثې او معلولینو د فیس د تخفیف اجرا کول

د ۱۴۰۴کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یتیمو، بې وزله ماشومانو، د شهیدانو وارثانواو معلولینو زده کوونکو سره د تخفیف په موخه، ۲۲۸ تنو زده کوونکو ته د عمومي زده کړو آمریت اړوند په خصوصي ښوونځیو او کورسونوکې د فیسونو تخفیف رامنځته شوی، د یاد فعالیت په تر سره کېدو سره هغه له زده پاتې بې برخې بېوزله زده کوونکي له زده کړو برخمن شول.

**2.1.9 لومړیتوب: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د علمي المپیادونو(سیالیو) او عملي پروژو دایرول**

### 2.1.9.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګر هار دپوهنې ریاست په کچه د ۲۳ پوهنیآمریتونو اړوندلېسو او منځنیو ښوونځیوکې د المپیاد (سیالیو) لارښود د ساینس د علمي غړوله خواتشریح شوی دی، چې د یاد فعالیت د ترسره کېدو په پایله کې پټ استعدادونه تشخیص، تشویق، زده کوونکې دتیوري( نظري) زده کړو تر څنګ د عملي زده کړو څخه برخمن شول.

### 2.1.9.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې د امریتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ۲۳ پوهنې آمریتونو اړوندپه ۳۰۶بابه لیسواوپه ۱۳۶بابه منځنیو ښوونځیو کې د اولمپیاد) سیالیو) لارښوود تطبیق شوی دی. چې د یاد فعالیت د ترسره کېدو په پایله کې پټ استعدادونه تشخیص، تشویق، زده کوونکې دتیوري( نظري) زده کړو تر څنګ د عملي زده کړو څخه برخمن شول.

### 2.1.9.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ۲۳ پوهنې آمریتونو اړوندپه ۳۰۶بابه لیسو او په ۱۳۶بابه منځنیو ښوونځیو کې د اولمپیاد) سیالیو) لارښوود تطبیق شوی دی، چې د یاد فعالیت د ترسره کېدو په پایله کې پټ استعدادونه تشخیص، تشویق، زده کوونکې دتیوري( نظري) زده کړو تر څنګ د عملي زده کړو څخه برخمن شول او اختراعاتو ته لاره خلاصه شوه.

### 2.1.9.4 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو دایرول

د ساینس عمومي مدیریت له‌خوا د علمي سیالیو د ترسره کېدو په پایله کې، د ښار د پوهنې آمریت او خوږیانو اړوندپه ۹ بابه لېسو کې ابتکاري او علمي پروژې جوړې او نندارې ته وړاندې شوې. له دې جملې څخه په تجربوي هلکانو لېسه کې د بیولوژۍ اړوند د مرچکو د دانې د بکتریاو د مشاهدې پروژه، په استقلال لېسه کې د فزیک اړوند د روبوټ پروژه، په نجم‌الجهاد لېسه کې د سولر تختې پروژه، په عربانو لېسه کې د اطراحي سیستم، په میا عمر لېسه کې د هاضمې سیستم موډل، په عبدالرحیم نیازي لېسه کې د ریموټي موټر پروژه، په نصرت لېسه کې د راکټموډل، او په شهید محمد عارف لېسه کې د آب‌ګرمې، ریکشې، الوتکې، زرنج او زانګو پروژې جوړې شوې وې. همدارنګه، د خوږیانو د پوهنې آمریت اړوند چمتلې لېسه کې د تعمیراتو، الوتکې او مرکباتو موډلونه جوړ او د ګډونوالو پر وړاندې ازمایل شول. د یادو فعالیتونو پایله کې زده‌کوونکي د علمي نوښت، تخنیکي مهارتونو او اختراعي پروژو جوړولو ته نور هم وهڅول شول.

### 2.1.9.5 فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې امریت په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دولس ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو د ترسره کېدو په موخه په ۱۰ بابه ښوونځیو کې ابتکاري پروژې جوړې او نندارې ته وړاندې شوې. له دې جملې څخه د ښار د پوهنې آمریت اړوند استقلال لېسه کې د روبوټ پروژه، د خوږیانو چمتلې لېسه کې د کښتۍ جوړولو پروژه، د ګوشتې ورسک لېسه کې د مېږ موټر پروژه، د روداتو د مایکروسکوپ پروژه، د دره نور د تعمیر پروژه، د مهمندرې د اکسواتر پروژه، د غنې‌خیلو د ټایلر پروژه، د اچین د اوړو ماشین پروژه، د کوزګنړ

(ښېوې) د کسوف او خسوف پروژه، او د شیرزادو مرکزي لېسه کې د تهریشر پروژه په بریالیتوب سره بشپړې او وړاندې شوې دي. همدارنګه، د سره رود او بهسودو د پوهنې آمریتونو اړوندښوونځیو ترمنځ سیالۍ هم ترسره شوې. د دې فعالیتونو له امله د وړتیا لرونکو زده‌کوونکو پیژندنه، تشویق او د لا زیاتو هڅو لپاره زمینه برابره شوې.

2.1.9.6 **فعالیت:** دولایتونو د پوهنې د ریاستونو په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د سایسنس مدیریت له لورې، د ښار پوهنې امریت اړوند د استقلال ښوونځي د روباټ پروژه غوره شوه . یادې پروژې د افغانستان په کچه څلورم مقام خپل کړ دوه نفر هریو ته یې نغدي، لپټاپ کمپیوټرونه ورکړل.

## 2.2 ښوونکی

2.2.1 **لومړیتوب:** د ورسپارل شوو دوند د پرمخ وړلو په موخه د ساینس مرکز د مرکزي او ولایتي علمي غړو روزنه

2.2.1.1 **فعالیت:** د مرکز او ولایتونو د ساینس مرکزونو د علمي غړو لپاره د ښوونیزې برنامېدایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ساینس مدیریت له لورې۴ تنه علمي غړو ته د ورسپارل شوو دندو پرمخ وړلو په موخه، ۱۲ ورځنۍ سمینار ۸ ورځنۍ سمینار دایر شوی دی، چې پر دې سره د یادو غړو وړتیا په اړوند برخه لوړه شوې.، چې پر دې سره د یادو غړو وړتیا په اړوند برخه لوړه شوې.

2.2.2 **لومړیتوب:** د رشتې خلاف او غیر مسلکي ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړل او مسلکي پراختیا

2.2.2.1 **فعالیت:** د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکیتوب یوه کلنه برنامه دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د امکاناتو نشتون له کبله ترسره شوی نه دی.

2.2.2.2 **فعالیت:** په ژمنۍ دوه کلنه برنامه کې د ښوونکي د روزنې د خدمت دننه برنامې تداوم او پلي کول (د ښوونکو مسلکي کول)

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ختیځ زون (ننګرهار، کنړ، لغمان او نورستان) په کچه، د داخل خدمت ۱۵۲ تنه ښوونکو ته په ټولیز ډول د شپږو ټولګیو له لارې تدریس ترسره شوی دی، چې له دې جملې څخه، ۱۳۸ تنه محصلین (د ریاضي په دوو ټولګیو کې ۴۴ تنه، د ساینس په دوو ټولګیو کې ۳۹ تنه، د انګلیسي ژبې په یو ټولګي کې ۲۵ تنه او د دري ژبې په یو ټولګي کې ۳۰ تنه) حاضر دي.، ، ، .

2.2.2.3 **فعالیت:** د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د غیرمسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانتونو ظرفیت لوړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د ښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د لابراتانو د وړتیا لوړولو او مسلکي پراختیا په موخه، د ساینس مدیریت له خوا په ۲۹ بابه ښوونځیو کې ۴۰ تنه د ساینس ښوونکي او ۲۹ تنه لابرانټ ښوونکي روزل شوي دي.

همدارنګه، د ۱۹/۱۱/۱۴۰۴ نېټې څخه تر ۲۸/۱۱/۱۴۰۴ نېټې پورې، د دورباba د پوهنې آمریت اړوند، د کیمیا په برخه کې ٦ تنه، د بیولوژي په برخه کې ٦ تنه، د ریاضي په برخه کې ۱۲ تنه او د فزیک په برخه کې ٦ تنه، چې ټولټال ۳۰ تنه د ساینس او ریاضیاتو اړوند ښوونکي او مستفیدین کېږي، په عملي برخه کې د وړتیاوو د لوړولو په موخه ورته سیمینارونه ترسره شوي دي.

، ، ، ، 2.2.3 **لومړیتوب:** د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو اوکمپیوټر د ښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د لابرانتانو وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا

2.2.3.1 **فعالیت:** د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ښوونکو او لابرانتونو لپاره د ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د ښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو د وړتیا لوړولو او مسلکي پراختیا په موخه د ساینس مدیریت له خوا ۱۴۸بابه ښوونځیو کې۱۹۰تنه د ساینس او ۹۹ تنه د لابرانټ ښوونکو ته چې جمله۲۸۹ تنه کیږي روزنه ورکړل شوې اوهمدارنګه تنه ۸۰تنه مستحضرینو ته د ساینس عمومي مدیریت د علمي غړو له خواورکشاپورکړل شوی دی، چې یاد ښوونکي له تجاربو سره بلد او په عملي بڼه نوموړي موضوعات زده کوونکو ته ور ښودل شوي دي.

2.2.4 لومړیتوب: د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو حلولو لپاره د تدبیرونو نیول

**2.2.4.1 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندنې په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاست او ولسوالیو د پوهنې امریتونو لارښوونه**

د۱۴۰۴کالد څلورمې ربعې تر پای پورې، د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندنې په موخه د ننګرهار د پوهنې ریاست د محترم مقام له خوا د ټولو اړوند پوهنې آمریتونو ته هدایت ورکړل شوی ترڅو د ښوونکو ژُمرې د رشتې پراساس وویشي اوپه دې اړه لازمې لارښوونې هم ورته شوې دي، چې پر دې سره د رشتې خلاف ښوونکي په نښه او د شته خلاء ډکولو لپاره لازم تدبیرونه نیولشوي دي.

**2.2.4.2 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو پېژندنه او معلومات راټولول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دور بابا د پوهنې آمریت اړوند ۳۰ تنه د کیمیا، بیولوژي، فزیک او ریاضي مضمونونو د رشتې خلاف ښوونکي په ګوته او وړتیاوو لوړولو په موخه ورته سمینار ورکړل شو.

2.2.5 لومړیتوب: د موجودو مدرسانو، ښوونکو او ښوونکو د رشتې سره سم توظیف لپاره لازم تدبیرونه نیول

**2.2.5.1 فعالیت: د رشتې سره سم د ښوونکو د ګمارلو د لارښود دتطبیق په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او ښوونیزو مرکزونو د کارکوونکو لارښوونه**

د ۱۴۰۴کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې ریاست په ګډون د ۲۳ پوهنې آمریتونو په کچه په مدارسو، دارالحفاظونو او دار العلومونو کې د ښوونکو د ګمارلو لارښود تطبیق شوی دی.چې پر دې سره د نوموړي لارښود په اړه ټولو ښوونکو ته وضاحت ورکړل شوی دی.

**2.2.5.2 فعالیت: د رشتې سره سم ښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړیزه څارنه**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیفولو په موخه، ټولو د پوهنې آمریتونو ته د ریاست د رهبرۍ او همدارنګه ښوونیزو ادارو او مدارسو ته ۱۰۰٪ لارښوونې شوې دي، تر څو د زمرو د ویش په وخت کې رشته په جدي ډول په پام کې ونیسي او یاده چاره عملي شوې هم ده، چې پر دې سره د نوموړي لارښود له تطبیق څخه ډاډ تر لاسه شوی دی.

2.2.6 لومړیتوب: د صنفي اصولو لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف لپاره لازم تدبیرونه نیول

**2.2.6.1 فعالیت: دچمتو شوي لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ګرمو سیمو د شپاړسو ولسوالیو (سره رود، بهسود، کامه، ګوشته، کوز کنړ، چپرهار، رودات، کوټ، بټي کوټ، غني‌خېل، نازیان، مومندره، لعلپوره، هسکه مېنه، سپین غر او ښار) اړوند د پوهنې آمریتونو په ښوونځیو کې، د ۱۹۰۵ غونډو له لارې د ټولګي اصولو لپاره د وړ ښوونکو د ګمارنې په موخه د چمتو شوي لارښود د تطبیق لپاره ۷۰ سلنه لارښوونې ترسره شوې دي، د دې بهیر په پایله کې، د یاد لارښود د اغېزمن تطبیق په اړه لازم ډاډ ترلاسه شوی دی.

**2.2.6.2 فعالیت: د لاربنود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړېزه څارنه او د صنفي اصولو د دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي توظیفول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د سړو سیمو له ښوونځیوڅخه د ټولګي اصولو د دورې لپاره د وړ ښوونکي د ګمارلو په موخه، د مسلکي پراختیا عمومي مدیریت لهخوا ۱۰۰سلنه څارنه او اړوند اقدامات ترسره شوي دیچې پر دې سره د چمتو شوي لاربنود د ننګرهار ولایت په کچه پلي شوی دی.

<u>2.2.7 لومړیتوب: په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د مسلکي پراختیا د ښوونځي د ګمارنې بشپړول او هغوی ته دورسپارل شوو دندو د پرمخ وړلو لاربښوونه کول</u>

**2.2.7.1 فعالیت: د ولایتونو په کچه د مسلکي پراختیا د غړو ګمارنه بشپړول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، پر شرایطو برابر علمي غړي نه دي موندل شوي او همدارنګه د ګمارنې پروسه د ښوونې، روزنې او ښوونکو د پراختیا د محترم ریاست پورې تړاو لري.

**2.2.7.2 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د دندو د چوکاټ، دندو د لایحو، څارنیزو وسایلو، د افکارو د روښانولو او مسؤولیت منلو په اړه د معرفتي او رهنمودي ښوونیزې برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، دمسلکي پراختیا د مرکزي هستې د علمي غړو له خوا د ښار په ګډون د ۲۲ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ۱٦۲ تنه نارینه علمي او مسلکي غړو ته او ۵۵ تنه ښځینه مدیرانو او سر ښوونکو ته د (اغیزمنې ښوونې او زده کړې دودول) تر عنوان لاندې نهه ورځنۍ ورکشاپ دایر شوی دی.

**2.2.7.3 فعالیت: د ولایتونو د مرکزي هستې د علمي غړو لپاره ښوونیز ټریننګ دایرول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعېکې د تر پای پورې، دمسلکي پراختیا د غړو لپاره د دندو د چوکاټ، دندو د لایحو، څارنیزو وسایلو، د افکارو د روښانولو او مسؤولیت منلو په اړه د ښوونیزو برنامو دایرولو په موخه، د ښار د پوهنې آمریتپه ګډون د ۲۳ ولسوالیو د پوهنې د آمریتونو اړوند مسلکي غړو او همدارنګه د مرکزي هستې ۱۹ تنو علمي غړو ته ورکشاپ ورکړل شوی.

<u>2.2.8 لومړیتوب: د ښوونځیو د شورا د غړو لپاره د وړتیا لوړونې برنامو دایرول</u>

**2.2.8.1 فعالیت: د شوراګانو د غړو ظرفیت لوړول**

د ۱۴۰۴ کال د د څلورمې ربعې تر پای پورې، د شوراګانو د غړو د ظرفیت د لوړولو په موخه دهمکارۍ اداري (یونیسیف) له خوا د اړوند پوهنې امریتونو په ښوونځیو کې د شورا ۵۰تنه غړو ته روزنه ورکړل شوې، همدارنګه د مسلکي پراختیا د مرکزي هستې د علمي غړو له خوا د ښار په شمول ۲۳ ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۱٦۲ نارینه علمي غړو ته، چې له دې جملې څخه ۲۲ تنه د شورا علمي غړي وو، د ( اغیزمنې ښوونې او زده کړې دودول) تر عنوان لاندې نهه ورځنۍ ورکشاپ دایر شوی دی.

<u>2.2.9 لومړیتوب:د نویو مقرر شوو ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا</u>

**2.2.9.1 فعالیت: د جدیدالتقرر ښوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو ښوونیزې برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د بستونو د تنقیص له امله نوې ګمارنې ترسره شوې نه دي، نو پر همدې بنسټ یاد فعالیت ځنډیدلی.

**2.2.9.2 فعالیت: د جدیدالتقرر سرښوونکو او مدیرانو لپاره د ظرفیت لوړولو ښوونیزې برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ کال د لمړۍ ربعې ترپای پورې، په مرکزي هسته کې د اړتیاو په اساس د ۳۵ تنو سرښونکو او مدیرانو ګمارنې شوې دي او یادو ګمارل شوو کسانو ته د چارو عمومي مدیریت د مسلکي غړو له لوري د ظرفیت لوړونې ورکشاپ ورکړل شوی دی، همدارنګه د مسلکي پراختیا د مرکزي هستې ښځینه وو علمي غړوله خوا د ښار په شمول د۲۲ ولسوالیوپه کچه، ۵۵ ښځینه مدیرانو او سر ښوونکو ته د (اغیزمنې ښوونې او زده کړې دودول) تر

عنوان لاندې نههورځنۍ ورکشاپ دایر شوی دی. چې پر دې سرهد سرښوونکو او مدیرانو په علمي کچه کې لوړوالی راغلیاو د تدریس کیفیت ښه شوی دی.

2.2.10 لومړیتوب: د ښوونکو، زده‌کوونکو او کارکوونکو لپاره د ورتیا لوړونې زمینې برابرول

2.2.10.1 فعالیت: د ښوونکو لپاره د روغتیایي ورکشاپونو دایرول

د۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د روغتیا په اړه د معلوماتو ورکولو په موخه؛ دADA اداري له خوا د هسکېمینې، اچین او کوټ ولسوالیو کې ۲۵ تنو ښوونکو ته ٦ ورځنۍ ورکشاپ ورکړل شوی. چې د یاد فعالیت په تر سره کېدو سره د یادو ولسوالیو ښوونکي د روغتیا د ارزښت او روغتیا د ته د زیان رسوونکو لاملونو په اړه وپوهول شول.

2.2.10.2 فعالیت: د روغتیا مدیرانو لپاره د ورکشاپونو دایرول

۱۴۰۴ هـ .شکال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د یونیسف اداربله خوا د جلال اباد ښار په ګډون د ۲۳ پوهنې آمریتونو په کچه ۳۸۹ تنو ښځینه مدرسینو ته د ډینګې د ناروغی په اړه د عامه پوهاوي یوه ورځنۍ ورکشاپ ورکړل شوی دی، چې د یادې روزنې تر څنګ ٦۰۰۰ د عامه پوهاوي پاڼې هم ویشل شوې دي، د یاد فعالیت په تر سره کېدو سره یادو ښځینه مدرسینوډ ډینګې په ناروغیو د اخته کېدو نښې او لاملونه او همدا راز ورڅخه د بچ کېدو لارې وپیژندلې.

2.2.10.3 فعالیت: د مرکز او ولایتونود پوهنې د بدني روزنې د مسلکي او غیر مسلکي ښوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره د بدني روزنې(حرکي لوبو) ښوونیز سمینارونه په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد ولایت د پوهنې ریاست په کچه، پوهنې د بدني روزنې د مسلکي او غیر مسلکي ښوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره د بدني روزنې(حرکي لوبو) ښوونیز سمینارونه د امکاناتو د نشتون له امله په لاره نه دي اچول شوي.

2.2.11 لومړیتوب: د سوادزده‌کړې برنامې ته د رضاکاره او افتخاري ښوونکو د جلب او جذب لپاره د سیمې د خلکو همکاري

2.2.11.1 فعالیت: پهښوونیزو مرکزونوکې د ښوونکي د کمښت د رفع کولو لپاره د ځایي خلکو له لوري افتخاري تدریس او د غیر رسمي ښوونکو توظیفول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د پوهنې ریاست د جلال اباد ښار د پوهنې آمریت اړوند ۳٦ تنه رضاکار ښوونکي جذب شوي دي، چې په دې سره په ښوونځیو کې د ښوونکو کمښت ستونزه حل شوې او دزده کوونکو د زده کړې بهیر د خنډ او ځنډ څخه وژغورل شو.

2.3 نصاب

۲.۳.۱ لومړیتوب: د اړوندو مضمونونو د ښوونې لپاره د چاپېريالي عيني موادو او تجربو د استفادې دودول

۲.۳.۱.۱ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د ساینس مرکزونو د علمي غړو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د ټولو ۲۳ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه د اړوندو مضمونونو د ښوونې لپاره د ساینس عمومي مدیریت د علمي غړو له خواد چاپېریالي عیني موادو او تجربو د استفادې دودولو په موخه لارښوونې تر سره شوې، چې په دې سره زده کوونکو عملي زده کړو ته په اسانۍ سره لاسرسی پیداکړ.

۲.۳.۱.۲ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د ټولو ۲۳ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه د اړوندو مضمونونو د ښوونې لپاره د ساینس عمومي مدیریت د علمي غړو له خواد چاپېریالي عیني موادو او تجربو د

استفادې دودولو په موخه لاربښوونې تر سره شوې، چې په دې سره زده کوونکو عملي زده کړو ته په اسانۍ سره لاسرسی پیداکړ.

### ۲.۳.۱.۳ فعالیت: د لاربښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لاربښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار ولایت د پوهنې آمریتونو اړوند ۳٦٦ بابه ښوونځیو ته، د اړوند مضمونونو د اغېزمنې ښوونې په موخه، د چاپېریالي عیني موادو او عملي تجربو د کارونې د دودولو لپاره لازمې لاربښوونې ترسره شوې دي.

په دې لړ کې، د دره نور ۴۴ بابه، د کامې ۱۸ بابه، د شینوارو ۱۹ بابه، د مهمندرې ۲۰ بابه، د بتي کوټ ۱۸ بابه، د بهسودو ۱۱ بابه، د لعلپوره ۸ بابه، د روداتو ۱۲ بابه، د سپین غر ۱۱ بابه، د ګوشتې ۵ بابه، د حصارک ۸ بابه، د شیرزادو ۷ بابه، د سره رود ٦ بابه، د کوټ ۷ بابه، د خوږیانو ۷ بابه، د پچیراګام ۱٦ بابه، د هسکې مېنې ۱۵ بابه، د نازیانو ۲۲ بابه، د دور بابا ۱۷ بابه، د اچین ۲۲ بابه، د شېوې ۳۳ بابه او د چپرهار ۴۰ بابه ښوونځي شامل دي.

یادې لاربښوونې د ساینس عمومي مدیریت د علمي غړو له لوري وړاندې شوې دي، چې د دې فعالیت په پلي کېدو سره زده کوونکو ته د علمي او عملي زده کړو د اسانه لاسرسي زمینه برابره شوې ده.

## <u>۲.۳.۲ لومړیتوب: د ښوونیز نصاب سره سم د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لاربښود کتابونو بیاکتنه او ویش</u>

### ۲.۳.۲.۱ فعالیت: د دارالعلومونو د مدرسینو او ښوونکو لپاره له څلورمې تر دولسمټولګي پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو لاربښود کتابونو ویش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ساینس عمومي مدیریت له خوا د ټولو پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو او د دارالعلومونو مدرسینو ته ۳٦۴ د تجربو لاربښود کتابونه چې، له دې ډلې ۱۸۲ د دارالعلومونو د مدرسینو لپاره او ۱۸۲ د ښوونکو لپاره و، ویشل شوي دي.

## <u>۲.۳.۳ لومړیتوب: د درسي مرستندویه موادو (د ریاضي، بیولوژي کیټونو، ښوونیزو چارټونو او ویدیوګانو) ته د طالب‌العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو د لاسرسي زمینه برابرول</u>

### ۲.۳.۳.۲ فعالیت: انتقال مواد ممد درسی از ریاست های معارف ولایات به آمریت های معارف ولسوالی ها/نواحی

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې په جریان کې د ساینس عمومي مدیریت له خوا، ۱۵۸توکه د ساینس او ریاضیاتود لاربښود کتابونه د ا ړوند پوهنې آمریتونو ښوونیزو مرکزونو ته لېږدول شوي دي، همدارنګه ۱۴.۳۷۹ تنه د بیولوژي د موډلونو څخه برخمن شوي دي. چې په دې سره یادو موادو د تدریس په بهیر کې له زده کوونکو سره مرسته وکړه

### ۳.۳.۳.۲فعالیت: له ولسوالیو/ناحیو د پوهنې آمریتونوڅخهښوونیزو مرکزونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږدول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ساینس عمومي مدیریت له خواد ۲۳ پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو ته ۲۵ د ریاضي کیټونه او ۱٦۱ د کیمیا، بیولوژي او فزیک اړوند وسایل او مواد ویشل شوي دي، همدارنګه ۱۴، ۳۷۹ تنه د بیولوژي د موډلونو څخه برخمن شوي دي. چې په دې سره یادو مواد د تدریس په بهیر کې له زده کوونکو سره مرسته وکړه.

### ۴.۳.۳.۲فعالیت: د طالب‌العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د درسي مرستندویه موادو ویش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې په جریان کې، د ساینس عمومي مدیریت له خواد ۲۳ پوهنې آمریتونو اړوند سیمو کې، ۲۵ د ریاضي کیټونه او ۱٦۱ د کیمیا، بیولوژي او فزیک اړوند مواد ویشل شوي، چې له امله یې ۳۰.۱۷۹ تنه ترې برخمن شوي دي، چې دغه مرستندویه مواد د زده‌کوونکو د پوهې کچه لوړه کړې.

۲.۳.۴ لومړیتوب: د صنفي اصولو دوري لپاره د کمبود درسي کتابونو، په ځانګړې توګه د اساسي مضمونونو، چاپ او متوازن وېش

۲.۳.۴.۱ فعالیت: له ذیدخلو اړخونو او د مرکزي او ولایتي ریاستونو سره د درسي کتابونو د کمښت په اړه همغږي او اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د درسي کتابونو کمښت تشخیص شوی، اړتیاوې سنجول شوې، او د اړوندو ادارو ترمنځ بشپړه همغږي رامنځته شوې ده.چې ددې فعالیت په بشپړولو سره به د کتابونو کمښت ستونزه حل شي.

۲.۳.۵ لومړیتوب: په ښوونځیو کې د بدني روزنې د ودې او پراختیا لپاره د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتابونو وېش

۲.۳.۵.۱ فعالیت: د پوهنې مرکز او ولایتونوښوونځیو ته د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتابونو وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د پوهنې آمریت اړوند شپږو د پوهنې آمریتونو (بهسودو، کامې، ښار، کوزکنړ، چپرهار او خوږیانو) ته ټولټال ۱۱۹ ټوکه (هر پوهنې آمریت ته ۳٦ ټوکه ) کتابونه ورکړل شوي دي، چې د دې کتابونو په ویش سره د اړوند ښوونځیو د کتابونو د کمښت ستونزه حل شوه.

۲.۳.٦ لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې لپاره د اړینو کتابونو برابرول

۲.۳.٦.۱ فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامې د اړینو کتابونو اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د ننګرهار ولایت په کچه ترسره شوی نه دی، خو د ننګرهار د پوهنې ریاست د سواد زده کړې عمومي مدیریت له خوا د ۱۴۴۷ /۴/۲۱ نېټې ۱۱۷او ۱۴۴۷/۴/۱۵ نېټې۴۱۴ ګڼه لیکونو په اساس د وزارت محترم مقام ته وړاندیزونه شوي دي.

## 2.4 ښوونیزه ارزونه

د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان کې په دې اړه نه کوم لومړیتوب او نه هم کوم فعالیت شامل دی.

## 2.5 ښوونیز چاپیریال

2.5.1 لومړیتوب: په ښوونیزو مرکزونو کې د لابراتوارونو او کمپیوټر لبونو جوړول او تجهیزول

2.5.1.1 فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په موخه د ښوونیزو مرکزونو اړتیا سنجونه

د۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ساینس عمومي مدیریت د علمي غړو له‌خوا ننګرهار اړوند پوهنې آمریتونو کې په ټولیز ډول د ۴۷۹ بابه ښوونځیو د لابراتوارونو اړتیاوې معلومې شوې چې، له دې ډلې څخه ۱۱۵ بابه ښونځي ایجاد ته او ۳۴۱ بابه ښوونځي تجهیز ته اړتیا لري.

2.5.1.2 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو لپاره د ساینس او ریاضیاتو لابراتوارونه رامنځته کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مالي امکاناتو د نشتون له امله نوي لابراتوارونه نه دي رامنځته شوي.

2.5.1.3 فعالیت: د سامان الاتو او لابراتواري موادو له لارې د ښوونیزو مرکزونو لابراتوارونو او کمپیوټر لبونو تجهیزول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ساینس عمومي مدیریت له‌خوا د اړوند پوهنې آمریتونو د لابراتوارونو د تجهیز په موخه، ۲۵ قلمه د ریاضیاتو کیټونه او ۱٦۱ قلمه د کیمیا، بیولوژۍ او فزیک تدریسي وسایل ویشل شوي، چې له امله یې د ۲۳ دولتي ښوونځیو لابراتوارونه مجهز شوي دي.

همدارنګه، په ٦٨ خصوصي ښوونځيو کې د ساينس لابراتوارونه جوړ شوي، چې له جملې يې٣۴ د ښار، ١٦ د بهسودو، ٧ د سره رود، ٣ د روداتو، ٢-٢ د بتي کوټ او ګوشتې، او يو-يو د پچيراګام، دره نور، ښېوې او چپرهار د پوهنې آمريتونو اړوند دي.

په ورته وخت کې، ٦٧ خصوصي ښوونځي د کمپيوټر ليبونو په وسايلو تجهيز شوي، چې له جملې يې٣۴ د ښار، ١٦ د بهسودو، ٧ د روداتو، ٣ د بتي کوټ، ٢ د ګوشتې، او يو-يو د پچيراګام، دره نور، ښېوې او چپرهار اړوند دي.

~~2.5.2 لومړيتوب: د ادارو په ديپوګانو کې د ګتې اخيستنې وړ منابعو ( درسي کتابونه، ميز او چوکۍ، توره تخته، مطبوع او غير مطبوع قرطاسيه، فرش او خېمه، وسايط، وسايل، تجهيزات او لابراتواري موادو) پېژندل او د هغې متوازن وېش~~

2.5.2.1 **فعاليت:** په اړوندوګدامونو او اداروکې د وسايلو، تجهيزاتو او لابراتواري موادو پېژندنه او د استفادې لپاره په ښوونيزو مرکزونوکې د هغو متوازن وېش

د ١۴٠۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، ٣۴٬٨٣٥ ټوکه د عمومي زده کړو کتابونه د يومنسجم ميکانيزم له مخې د نشراتو عمومي مديريت لەخوا د ٢٣ پوهنې آمريتونو په کچه ويشل شوي دي. همداراز، د اچين د پوهنې آمريت اړوند کهي لېسې ته ٢٨٨ قلمه درسي توکي او سامان او د سپين‌غر د پوهنې آمريت اړوند ٦ بابه لېسو ته ٢٨٨ قلمه، او د ښار د پوهنې آمريت اړوند٢ بابه لېسو ته ٧٧ قلمه لابراتواري وسايل د ساينس عمومي مديريت لەخوا ورکړل شوي دي. د يادو توکو د وېش له امله زده‌کوونکي له عملي زده کړوڅخه برخمن شوي دي.

~~2.5.3 لومړيتوب: په کابل ښار او ولايتونوکې د بېلګه ايزو مرکزونو تشخيص او ازمايشي فعالول~~

2.5.3.1 **فعاليت:** نمونه ښوونځيو ته د ارتقا لپاره د عادي ښوونځيو د اړتياوو تشخيصول

د ١۴٠۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د جلال اباد ښار د پوهنې آمريت اړوند دوه بابه لېسې (ننګرهار او الايي) د نمونه يي ښوونځيو په توګه پيژندل شوي دي.

~~2.5.4لومړيتوب: د بې ښوونکوټولګيو لپاره لازم تدبيرونه نيول~~

2.5.4. **فعاليت:** د بې ښوونکي درسي ټولګيو پېژندنه

د١۴٠۴ کال دڅلورمې ربعې تر پای پورې، د مسلکي پراختيا د علمي غړو له خوا ١٣٧٢ بابه ټولګي موندل شوي چې ښوونکي نه لري, چې له دې ډلې ٢٨٨ بابه ټولګي د لېسې دورې, ٢٩١ بابه ټولګي د منځنۍ دورې او ٧٩٣ بابه ټولګي د لومړنۍ دورې دي.

2.5.4.2 **فعاليت:** د هغو ښوونيزو مرکزونو پېژندنه چې پر ښوونکي د زده‌کوونکي نسبت يې له ټاکل شوي نورم څخه ټيټ دی

د ١۴٠۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مسلکي پراختيا د علمي غړو له خوا ٣٩ ښوونځي موندل شوي چې پر ښوونکي د زده‌کوونکي نسبت يې له ټاکل شوي نورم څخه ټيټوي.

2.5.4.3 **فعاليت:** د لارښود تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياست لارښوونه

د١۴٠۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې ټولوآمريتونو ته د عمومي زده کړو د آمريت اړوند د مسلکي پراختيا عمومي مديريت د مسلکي غړوله خوالارښووني شوې دي، چې پر دې سره د لارښوونو د تطبيق له لارې د ښوونې او روزنې بهير منظم شوی او د ښوونيزو چارو د ښې همغږۍ او مؤثريت سبب شوی دی.

2.5.4.4 **فعاليت:** د لارښود د تطبيق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د امريتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې ټولوآمریتونو ته د عمومي زده کړو د آمریت اړوند د مسلکي پراختیا عمومي مدیریت د مسلکي غړوله خوالارښوونې شوي دی.چې پر دې سره د ښوونیزو مرکزونو د څارنې او ارزونې بهیر پیاوړی او د تعلیمي لارښود د مؤثر تطبیق له لارې د زده‌کړو کیفیت لوړ شوی دی.

**2.5.4.5 فعالیت:** د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې ټولو ښوونیزو مرکزونوته د عمومي زده کړو د آمریت اړوند د مسلکي پراختیا عمومي مدیریت د مسلکي غړوله خوا لارښوونې شوې دي.چې پر دې سره د ښوونیزو مرکزونو د ظرفیت لوړولو او د تعلیمي لارښود د مؤثر تطبیق له لارې د زده‌کړې د کیفیت د ښه‌والي زمینه برابره شوې ده.

**2.5.4.6 فعالیت:** پهښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې په جریان کې ټولو ښوونیزو مرکزونو کې لارښود پلی شوی دی. چې پر دې سره یاد فعالیت د بې ښوونکو ټولګیو د پوره کولو په موخه د ښوونکو په چمتو کولو کې د اړوندو ادارو ترمنځ همغږې زیاته شوې ده.

**2.5.4.7 فعالیت:** د مسلکي پراختیا د غړو له راپور ورکولو وروسته د بې ښوونکي ټولګیو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکي د چمتوکولو په موخه د کارکوونکو چارو له لوی ریاست سره همغږي

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مسلکي پراختیا د غړو د راپور او د پوهنې ریاست د رهبرۍ د پریکړې وروسته ۳۵ تنه د پوهنې آمریتونو په داخل کې خدمتي او ۲۹ تنه ښوونکي تبدیل شوي دي او تر دې دمه قراردادي ښوونکو سهمیه د ننګرهار ولایت ته نه ده ورکړل شوې.خو سره له دې یادي همغږۍ د ښوونکو د ځینو ستونزو د حل لپاره مهم بنسټ جوړ کړی.

**2.5.5 لومړیتوب: د ازادي فضا ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نیول**

**2.5.5.1 فعالیت:** د هغو ښوونځیو چې په ازاده فضاکې د ټولګیو لرونکي دي او دهغو ټولګیو چې په ازاده فضاکې قرار لري پېژندنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ازادې فضاء ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نیولو په موخه؛ د ۲۳ پوهنې امریتونوپه کچه د (۳۸۷) ښوونیزو مرکزونو اړوند۲۹۵۳ټولګي چې په ازاده فضاء کې قرار لري، د مسلکي پراختیا عمومي مدیریت له خوا پیژندل شوي دي. چې پر دې سره د هغو ښوونیزو مرکزونو او ټولګیو د پېژندنې زمینه برابره شوې ده چې په ازاده فضا کې فعالیت کوي.

**2.5.5.2 فعالیت:** د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

د۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لارښود د تطبیق په موخه د مسلکي پراختیا عمومي مدیریت له خوا دآمریتونوسره په همغږۍ دهموارې سطحې، سیورۍ برابرولو اود راتلونکې لپاره بوټیکرلو او همدارنګه همکارو موسسو په مرسته د خیمو او الماریو لګولو په اړه په اړه لازم تدبیرونه نیول شوي دي. چې پر دې سره یاد فعالیت د لارښود د مؤثر تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته د واضحو لارښوونو د ورکړې زمینه برابره کړې.

**2.5.5.3 فعالیت:** د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د امریتونو لارښوونه

د۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لارښود د تطبیق په موخه د مسلکي پراختیا عمومي مدیریت له خواد آمریتونو سره په همغږۍ د هموارې سطحې، سیورۍ برابرولو او د راتلونکې لپاره بوټي کرلو او همدارنګه همکارو موسسو په مرسته د خیمو او الماریو لګولو په اړهپه اړه لازم تدبیرونه نیول شوي دي. چې پر دې سره یاد فعالیت د لارښود د مؤثر تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته د واضحو لارښوونو د ورکړې زمینه برابره کړې.

**2.5.5.4 فعالیت:** د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لاربښود د تطبيق په موخه؛د مسلکي پراختيا عمومي مديريت د مسلکي غړو له خوادتړولوښوونيزو مرکزونوپه کچه د سيمه ئيز شورا او همکارو مؤسسو په مرسته د هموارو سطحو، سيورو جوړولو او الماريو اخيستلو په اړه د مسلکي پراختياله خوالارښوونې ترسره شوي دي او همدا راز د يادو ستونزو د حل په موخه ورته لارښوونه وشوه چې د ولسواليو د پوهنی امريت، سيمه ئيز شوراګانی، محلي سوداګر او همکارو مؤسسو په مرسته دې درسي ټولګي جوړ يا هم خيمې واخستل شي. او همدارنګه د يادو ستونزو د حل په موخه ورته لارښوونه وشوه.

### 2.5.5.5 فعالیت: په ښوونيزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول

د۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لارښود د تطبيق په موخه؛ د مسلکي پراختيا عمومي مديريت د مسلکي غړو له خوا د ښوونځيو امرينو او سرښوونکوته لارښوونه وشوه، ترڅو په خپلو ښوونځيو کې داسی چاپيريال برابر کړيچې د ديوالونو او لويو ونو د لويدو او همدارنګه د برق لينونود خطر څخه په امان کې وي.

### 2.5.5.6 فعالیت: د مسلکي پراختيا غړو د راپور له وړاندې کولو وروسته د بې ودانۍ ښوونځيو لپاره د ښوونيز چاپيريال لګه (د خېمې او کرايي ودانۍ) د پيداکولو او برابرولو په موخه له اړوندو رياستونو سره همغږي

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې رياست د مسوولينو له خوا، د مسلکي پراختيا غړو د راپور له وړاندې کولو وروسته د بې ودانۍ ښوونځيو لپاره د ښوونيز چاپېريال د پيداکولو او برابرولو په موخه له اړوندو رياستونو سره په پر له پسې ډول همغږي شوې ده.

### <u>2.5.6 لومړيتوب: د صنفي اصولو دورې په ځانګړې توګه لومړيټولګي ته د بهترين ټولګيځانګړي کولو لپاره لازم تدبيرونه نيول</u>

### 2.5.6.1 فعالیت:د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظيفولو د لارښود له تطبيق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه ملاتړيزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونکو د ګمارلود لارښود له پلي کېدو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه؛ دښوونې، روزنې او ښوونکو د پراختيا د مسلکي غړو له خوا د ۲۳ پوهنې آمريتونو څخه د ټولګي اصولو لپاره د غوره او وړ ښوونکو د ګمارنې په اړه سل سلنه ملاتړيزه څارنه ترسره شوې ده.چې پر دې سره د ښوونکو د ګمارلو بهير د ټولګي اصولوپر بنسټ، په شفاف او عادلانه ډول تر سره شوی دی.

### 2.5.6.2 فعالیت: د لارښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياست لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای، د لارښود د تطبيق په موخه د ننګرهار د پوهنې رياست له خوا۲۳ پوهنې آمريتونو په کچه غونډې ترسره شوې ترڅو د پوهنی وزارت او د همکارو مؤسسو په مرسته يادو ښوونځيو کې ستونزې په ګوته او ورته په وخت رسيدنه وشي.

### 2.5.6.3 فعالیت:د لارښود د تطبيق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د امريتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای، د لارښود د تطبيق په موخه د ننګرهار د پوهنې رياست له خوا ۲۳ پوهنې آمريتونو په کچه غونډې ترسره شوې ترڅو د پوهنی وزارت او د همکارو مؤسسو په مرسته يادو ښوونځيو کې ستونزې په ګوته او ورته په وخت رسيدنه وشي.

### 2.5.6.4 فعالیت: د لاښود د تطبيق لپاره د ښوونيزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای، د لارښود د تطبيق په موخه د مسلکي پراختياآمريت د مسلکي غړو له خوا د ۲۳ پوهنې آمريتونو اړوند د ښوونيز مرکزونو مسؤلينواو د ښوونځې شوراګانو ته لارښوونه وشوه چې د والدينو او سيمه ئيزسوداګرو او ملکانو پام دېپه ښوونځيو کې شته ستونزو ته راجلب کړي تر څو د ذکر شوو اشخاصو د مالي او فزيکي امکاناتو څخه د زده کوونکود زده کړې لپاره ګټه واخيستل شي.

2.5.6.5 **فعالیت:** په ښوونیزو مرکزونوکې د لاربنود پلي کول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو کې د لاربنود د پلي کېدو په موخه، د مسلکي پراختیا عمومي مدیریت د مسلکي غړو له‌خوا اړوند پوهنې آمریتونو ته اړینې لاربنوونې شوې دي. یاد لاربنود د ناستو، تمثیلي پارچو، د کلیو مشرانو او ملا امامانو له لارې٪۱۰۰ تطبیق شوی، چې له امله یې د ښوونیزو مرکزونو فعالیتونه لا منسجم شوي دي.

2.5.7 لومړیتوب: له (دمې پرته) د ښوونیزکال له پیل سره د ښوونیزو مرکزونو د تعلیمي فعالیتونو د پیل لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

2.5.7.1 **فعالیت:** د ښوونیزکال په پیل کې په ښوونځیوکې د ښوونیزو فعالیتونو له پیل څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیز کال له پیل څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د مسلکي پراختیا غړو له لورې، په اړوند ۲۳ پوهنې آمریتونو کې ملاتړیزه څارنه تر شوې ده، چې د یادې څارنې په پایله کې معلومه شوه چې ټول ښوونیز مرکزونه پر خپل وخت پیل شوي دي.

2.5.7.2 **فعالیت:** د ښوونیزکال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د وېش له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه

د۱۴۰۴ښوونیزکال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د وېش له بهیر څخه د ملاتړیزې څارنې په موخه؛ د د نشراتو عمومي مدیریت د کتابونو او درسي توکو ویش یهیر څارل شوی دی، چې پر دې سره درسي کتابونه او مرستندویه توکي پر وخت او سم ډول ښوونځیو ته ورسول شول ترڅو زده‌کوونکي خپلې زده‌کړې په وخت سره پیل کړي.

2.5.7.3 **فعالیت:** د لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لاربنوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لاربنود د تطبیق په موخه، د مسلکي پراختیاد غړو له خواد ۲۳ پوهنې آمریتونو تهد لاربنود د تطبیق په اړه سل سلنه لاربنوونې ترسره شوي دي.

2.5.7.4 **فعالیت:** د لاربنود د تطبیق لپاره د ولسوالی د پوهنې د امریتونو لاربنوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لاربنود د تطبیق په موخه د مسلکي پراختیا غړو له‌خوا اړوند۲۳ پوهنې آمریتونو ته اړینې لاربنوونې ورکړل شوې دي، چې په دې لړ کې د مسلکي غړو په حضور د زمرو ویش ترسره شو او د ریاست او سیمه‌ییزو شوراگانو په همکاری د درسي کتابونو د کمښت ستونزه هواره شوه.

2.5.7.5 **فعالیت:** زده کړیزو مرکزونو ته د لاربنود د پلي کولو په اړه لاربنوونې کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لاربنود د تطبیق په موخه، د مسلکي پراختیا د غړو له لورې، د اړوند ۲۳ پوهنې آمریتونو په کچه لاربنوونې شوې دي، او د یادو غړو په شتون کې د اړوند ښوونځیو د زمرو ویش هم ترسره شوی دی.

2.5.7.6**فعالیت:** پهښوونیزو مرکزونوکې د لاربنود پلي کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لاربنود د تطبیق په موخه، د مسلکي پراختیا د غړو له لوري په ۲۳ پوهنې آمریتونو کې ٪۱۰۰ لاربنوونې ترسره شوې دي.

2.5.8 لومړیتوب: حد اکثر په دوو ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم لپاره د لازمو تدبیرونو نیول

2.5.8.1 **فعالیت:**د هغو ښوونځیو پېژندنه چې له دوو څخه زیات درسي ټایمونه لري

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دوه څخه د زیاتو درسي ټایمونو لرونکو ښوونځیو د پیژندلو په موخه؛ د ښار او بهسودو د پوهنې آمریتونو اړوند ۱۲بابه لېسې (ننگرهار، نصرت، سید شمس الدین مجروح، قلعه جانان خان، ننگرهار لېسه, افغان مېنه, شمس الدین مجروح, بي بي حوا, تجربوي, نازو انا, بي بي مریم او

عبدالرحیم نیازی) د دوه وخته څخه زيات درسي وختونه لري.د ياد فعاليت په ترسره کېدو سره مسؤلينو (ولايتي او مرکزي) ته معلومات ترلاسه شول چې دوه وخته يا د دوو څخه زيات وخته ښوونځي څومره او چېرته شتون لري، تر څو درسي بهير يې منظم شي.

**2.5.8.2 فعاليت:** د لاربښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياست لاربښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د پوهنې رياست اړوند د ټولو ښوونځيو په کچه د مسلکي پراختيا غړو له خواپه دوه ټايمه ښوونيزو مرکزونو کې د لاربښود د تطبيق چارې وڅارل شوې او هغه ښوونځي چې په ياده برخه کې ستونزې لري، د وزارت محترم مقام او همکارو مؤسسوسره د حل په موخه شريکې شوې دي.

**2.5.8.3 فعاليت:** د لاربښود د تطبيق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د امريتونو لاربښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د پوهنې رياست اړوند په ۲۳ پوهنې آمريتونو کې، د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري، هغه ښوونځيو ته چې له دوو څخه زيات درسي شفټونه لري، د ټولګيو او پکې د شته زده کوونکو معياري شمېر مراعتولو په اړه لازمې لارښوونې شوې دي.

**2.5.8.4 فعاليت:** د لاربښود د تطبيق لپاره د ښوونيزو مرکزونو لاربښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د پوهنې رياست اړوند په ۲۳ پوهنې آمريتونو کې، د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري، آمرينو او سرښوونکو ته لاربښوونه شوې، تر څو په هغو اړوند ښوونځيو کې چې له دوه زيات درسي شفټونه لري، د ښوونکو علمي او مشورتي شوراګانو له لارې ور ښوونکي وګماري.

**2.5.8.5 فعاليت:** په ښوونيزو مرکزونوکې د لاربښود پلي کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د پوهنې رياست اړوند په ۲۳ پوهنې آمريتونو کې، د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري، آمرينو او سرښوونکو ته لاربښوونه شوې، چې په ترڅ کې مختلط ټولګي په سهار او ماسپښين دورو باندې دی وويشل شول.

**2.5.9 لومړيتوب: د هېواد په کچه د ښوونې او روزنې زمينه برابرول او ښوونځيو متوازن کول**

**2.5.9.1 فعاليت:** په کابل ښار او ولايتونوکې د جديدالتأسيس ښوونځيو رامنځته کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د پوهنې رياست ته د پوهنې جليله وزارت له خوا د کوم جديد التاسيس ښوونځی د تأسيس په اړه مکتوب نه دی راغلی او همدارنګه د ښوونکو د بستونو د کمښت له امله کوم ښوونځی نه دی تأسيس شوی.

**2.5.9.2 فعاليت:** د لومړنيو منځنيو او منځنيو لېسه ښوونځيو ته لوړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ياد ولايت د پوهنې رياست په کچه، د هسکې مېنې د پوهنې آمريت اړوند يو باب ښوونځي (غلنۍ ابتدايه) له لومړنۍ کچې څخه منځنۍ کچې ته ارتقاء کړې، همدارنګه د ۱۰ بابه ښوونځيو د لېسې کچې ته د ارتقاء موضوع د پوهنې وزارت سره شريکه شوې، چې تر اوسه يې کارنه وروستي شوي نه دي.

**2.5.9.3 فعاليت:** د هغو کليو او محلاتو تشخيصول چې ماشومان يې د واټن د ستونزې او نورو جغرافيايي ستونزو له امله له زده‌کړې بې برخې پاتې دي او د هغوی لپاره د بديلو خدماتو برابرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونې او ارزونې آمريت له لوري د ننګرهار اړوند په (ګوشتې، کوټ، بهسودو او اچين) پوهنې آمريتونو کې الحاقي او سيمه ييز ټولګي رامنځته شوي دي.

**2.5.9.4 فعاليت:** په ولايتونوکې د مختلطو لېسو ښوونځيو په هغه صورت کې تجزيه کول چې لسمه شعبه ولري

د څلورمې ربعې په عملياتي پلان کې دا فعاليت حذف شوی دی!

**2.5.9.5 فعاليت:** په کابل ښار او ولايتونوکې د دولتي او خصوصي ښوونځيو او کورسونو د نوم بدلون؛

د ۱۴۰۴کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، د خصوصي ښوونځيو او کورسونو نوم د بدلون په اړه هیڅ ډول غوښتنه نه ده شوې.

2.5.9.6 **فعالیت: پهکابل ښار او ولایتونوکې د خصوصي ښوونیزو مرکزونو( ښوونځیو او کورسونو) د نوم تأییدول؛**

د ۱۴۰۴ کال دخلورمې ربعې تر پای پورې، د خصوصي ښوونځيو او کورسونو نوم د تایید په اړه هیڅ ډول غوښتنه نه ده شوې.

2.5.9.7 **فعالیت:د ښوونکو د مسلکي پراختیا غږو له راپور وروسته د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تأسیس کړنلارې او اساسي او ثانوي زده‌کړو د لایحې د شرایطو نه بشپړېدو په صورت کې د دولتي ښوونځيو د درسي شعبو مدغمول**

**دخلورمې ربعې په عملیاتي پلان کې دافعالیت حذف شویدی!**

2.5.9.8 **فعالیت:د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تأسیس او لوړاوي کړنلارې د شرایطو د نه بشپړېدو په صورت کې د دولتي ښوونځيو مدغمول**

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د پوهنې ریاست اړوند هیڅ ښوونځی نه دی مدغم شوی، ځکه چې ټولو ښوونځيو د پوهنې وزارت له خوا ټاکل شوي شرطونه پوره کړي.

2.5.9.9 **فعالیت:د ولایتونو په کچه د اقلیمي بدلون ښوونځیو تثبیت او تأیید**

د ۱۴۰۴ کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار ولایت په کچه ټول ښوونځي د افت یا اقلیمي بدلون له امله د ګواښ سره نه دي مخ شوي..

2.5.9.10 **فعالیت: دیوي ولسوالی/ ښوونیزې حوزې په کچه د بست د اړتیا او کمښت په صورت کې له یوه ښوونځي ځخه بل ښوونځي ته د اضافه زمره بستونو لېږدول**

یاد فعالیت د ۱۴۰۴ کال د د ښوونیزکال په پیل کې په دریو پوهنې آمریتونو (ښار، بهسود او سره رود) کې اجراء شوی دی.

**2.5.10 لومړیتوب: د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو د د ښه‌والي او ودانی جوړلو په موخه د ستونزو پېژندل**

2.5.10.1 **فعالیت: داړتیا او لزوم دید سره سم د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو تر شخړې لاندې پروژو د چارو لیدنه او همغږي**

د ۱۴۰۴ کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د پوهنې ریاست اړوند تر شخړې لاندې پروژو د چارو څخه لیدنهاو همغږې د ګډ هیئت (اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیریت، اکشاف مسلکي او د کیفیت د تضمین آمریت) له خوا تر سره شوې ده، چې د روښانه لارښوونو په پایله کې ښکیل اړخونه قانع او د پروژې د تطبیق ډاډ تر لاسه شو.

2.5.10.2 **فعالیت: د پروژو د تطبیق په موخه د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو د ودانیزو پروژو د اړتیاوو راټولول**

د ۱۴۰۴ کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونځیو د ودانیزو پروژو د اړتیاوو راټولو په موخه د د ملکیتونو د ساتنې مدیریتد اړوند پوهنې آمریتونو څخه شته اړتیاوبراټولباو په تدارکاتي پلان کې ځای پر ځای شوي دي. او همدارنګه د احاطو، تشنابونو، ځاګانو او خیمو د اړتیا جدولونه د وزارت محترم مقام ته استولشوي چې دیادو ستونزو د حل په صورت کې به شته ستونزې له منځه لاړې او زده کوونکي به د یو غوره زده کړیز چاپېریال څخه برخمن شي.

2.5.10.3 **فعالیت: له ښکیلو ادارو سره د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د هغه ودانیزو پروژو په اړه همغږي چې د سیمې د اوسېدونکو د غوښتنو له لارې دي اداري ته رارسیږي**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، ټولو هغه غوښتنو ته چې د۲۳ پوهنې آمریتونو اړوند د سیمې د خلکو له خواد ودانیزو پروژو غوښتنپدننگرهار د پوهنې ریاسته رارسیدلي اود اړونداداړو سره سل سلنه همغږې او شریکې شوي دي.چې پر دې سره به د سیمې د اوسېدونکوغوښتنو ته رسیدگي وشي.

**2.5.10.4 فعالیت: د مرکزي او ولایتونو د ریاستونو له ښکېلو اړخونو سره د عمومي زده کړو د جدیدالتأسیس، ارتقايي او نورو هغه ښوونځیو د ودانیزو پروژو د ستونزو همغږي چې ( د احاطې دیوال، تشنابونو او د روغتیایي اوبو د څاه) جوړولو ته اړتیا لري**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای، د ودانیزو پروژو د ستونزو همغږي چې ( د احاطې دیوال، تشنابونو او د روغتیایي اوبو د څاه) جوړولو ته اړتیا لري، په اړه یې ستونزې په نښه او د ننگرهار د پوهنې ریاست له لوړېد وزارت محترم مقام سره شریکې شوې دي. چې پر دې سره به د سیمې د اوسېدونکو غوښتنو ته لاسرسی وشي، د یادو ودانیزو پروژو ستونزو ته به د حل لاره پیدا او زده کوونکو ته به د زده کړې لپاره مناسب چاپېریال برابر شي.

**2.5.11 لومړیتوب: د عمومي زده کړوښوونځیو د ساحو زرغونول**

**2.5.11.1 فعالیت: دمرکز او ولایتونو په کچه په ښوونځیوکې د شنو ساحو د رامنځته کولو لپاره د نهالونو او گلانو کښېنول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د شنو ساحو د رامنځته کولو په موخه د UMCA اداري له خواپه ۱۴ ښوونځیو کې شنه سیمې او باغونه جوړ شوي او همدارنگه د اشر په وسیله ۲۰۰۰مثمر او غیر مثمر بوټي د ۲۳ پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې د زده کوونکو او د ښوونځیو د اداري شوراگانو له خوا کرل شوي دي.

**2.5.12 لومړیتوب: د عمومي زده کړوښوونځیو د ساحو نظافت او پاکول**

**2.5.12.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د پاکوالي لپاره د حشرکارونو په لاره اچول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونځیو د پاکوالي په موخه، په ورځنۍ ډول د عمومي زده کړو د آمریت اړوند ښوونځیود ښوونکو او اداري له خواد ښوونځیو د نظافت او پاکوالي لارښوونې عملي کیږي او همدارنگه د څارندوي تیمونو له خواپه اونۍ کې یو ځل حشر ترسره کیږي. چې د یاد فعالیت په پایله کې د عمومي زده کړو ښوونځي عملاً پاک ښکاري او د زده کوونکو د ذهن د پراختیا او ښوونځي سره د علاقې سبب شوی.

**2.5.13 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو د میدانونو او لوبغاړو احصائیه ترتیبول**

**2.5.13.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د ورزشي ډگرونو او بېلابېلو رشتو د ورزشکارانو د احصائیې راټولول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننگرهار په کچه د ټولو ۸۰۳۲ تنه ورزشکاران، ٦۲۸ ورزشي ټیمونه او د لوبغالو ۱۷۸ میدانونه تثبیت او ثبت شوي دي، ، چې ددې احصائیه په چمتو کولو سره د بدني روزنې مدیریت لخوا د ورزش د پرمختگ او معیاري کېدو لپاره د پلان په تطبیق کې پوره سهولتونه رامنځ ته شوي دي. همدارنگه دننگرهار په کچه 657 تنه د کرکټ، 188 تنه د والیبال، 68 تنه د فوتبال او 6 ټیمونه د باسکیټ همدارنگه د80 والیبال لوبغالي، 4 د باسکیټ بال لوبغالي تثبیت شوي او اړوند احصایه یې مرکز سره شویکه شوې، خو د امکاناتو د نشتون له امله د کرکټ لپاره معیاري لوبغالی نشته.

**2.5.14 لومړیتوب: د سواد زده کړې کورسونو جوړول**

**2.5.14.1 فعالیت: د رسمي ښوونکو له لارې د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، ۱۴۷بابه د سواد زده کړې کورسونه په اړوند پوهنې آمریتونو کې د رسمي ښوونکو له خوا رامنځته شوي دي، چې پر دې سره له زده کړو پاتې کسان هم د لیک او لوست له نعمت څخه برخمن شوي دي.

2.5.14.2د ملا امامانو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځته کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د سواد زده کړې یو 1 باب کورس چې ۱۷ تنه هغه زده کوونکو ته چې له ښوونځي یې پاتې وو، د غني خیلو د ښاغلو ملا امامانو له لوري د اړوند آمریت تر چتر لاندې ایجاد شوی دی.

2.5.14.3 **فعالیت:** د راستنېدونکو او بې ځایه شوو لپاره د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځته کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د سواد زده کړې عمومي مدیریت له خوا راستنیدونکو زده کوونکوته 3 بابه کورسونه په مهمندرې، سرخرود، او هسکه مېنه کې او همدارنګه بـــې ځایه شوو زده کوونکو لپاره هم3بابه کورسونه د کوز کنړ او خوږیانو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په اړوند سیمو کې ایجاد شوي دي.

2.5.14.4 **فعالیت:** د کوچیانو لپاره د قراردادي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځته کول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د سواد زده کړې عمومي له لوري ۴ بابه د کوچیانو د سواد زده کړې کورسونه د بهسودو، مهمندرې او بتي کوټ د پوهنې آمریتونو اړوند سیمو کې ایجاد شوي دي.

<u>2.5.15 لومړیتوب: خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو ته جواز ورکونه، اعتبار ورکونه او پراختیا</u>

2.5.15.1 **فعالیت:** په ټول هېوادکې د خصوصي ښوونځیو او خصوصي ښوونیزو مرکزونو تأسیسول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار ولایت په کچه ١٦ بابه خصوصي ښوونځي تأسیس شوي دي، چې له دېډلې څخه، (هجرت افغان) او (عابد واخان) د سره رود د پوهنې آمریت اړوند، (البحر احسان، عبدالغفور روښان، د پوهې ډیوه) د ښار د پوهنې آمریت اړوند، (افغان بیلاد، عماد ارین، خادم افغان، بیان ننګرهار، بصیرت کاروان، ادریس درانی، قاسم النور) د روداتو د پوهنې آمریت اړوند، (استحکام، ګهیځ، ناصري ننګرهار نمبر ) ۲ او (مولوي شیرعلي مومند) د چپرهار د پوهنې آمریت اړوند تأسیس شوي دي او همدارنګه ۴ بابه خصوصي کورسونه هم تاسیس شوي دي.

2.5.15.2 **فعالیت:** د خصوصي ښوونځیو او خصوصي تعلیمي مرکزونو د جوازونو نوي کول او اعتبار ورکول

.د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد ولایت د پوهنې ریاست په کچه د ۳۹ خصوصي ښوونځیو او ۸ بابه ښوونیزو مرکزونو (کهکشان ادب، هاشمي، ډیوې خصوصي لیسې اړوند کورس، بحرین افغان، عقاب او تلوار د ښار د پوهنې آمریت اړوند؛ انعکاس اسلامي او کلام د بهسودو د پوهنې آمریت اړوند) جوازونه تمدید شوي دي او همدارنګه٦ بابه (عقاب، ډیوه، حضرت بلال، هوډ، بنیاد، تاند، شیرشاه) خصوصي ښوونځي نوو مؤسسینو ته سپارل شوي دي خو د کورسونو د سپارلو په اړه چا مراجعه نه ده کړې.

2.5.15.3 **فعالیت:** له لومړنۍ څخه منځنۍ او له منځنۍ څخه لېسې ته د خصوصي ښوونځیو لوړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، دولس (۱۲) بابه خصوصي ښوونځیو (حیات روښانه، خالد تعلیم افغان، پیغام روښان، سعد بن معاذ، همت رحمن، مسلیم نړیوال، زاهد ځلاند، ختیځ باختر، دارالسلام نمبر ۲، چاردیوال، صاعق افغان، زیارمل)، دلومړنۍ څخه منځنۍ کچې ته ارتقاء کړې ده او همدارنګه ۱۳ بابه خصوصي ښوونځیو (هوډ، انعکاس اسلامي، یوسف عدنان، کهکشان ادب، تمرکز، تلوار، کلام، مرام افغان، النور آسیا، فضل افغان، بنیاد، ګهیځ، احمد شاه دُراني نمبر ۴)، د منځني ښوونځي څخه لیسې ته ارتقاء کړې ده.

2.5.15.4 **فعالیت:** د ملکیت د لېږد او خصوصي ښوونځیو او خصوصي ښوونیزو مرکزونو د سپارلو د بهیر اسانه کول او ملاتړ

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد ولایت د پوهنې ریاست په کچه، د اووه۷) خصوصي ښوونځیو او یوخصوصي کورس ملکیت نوي موسس ته لیږدول شوی دی.

## 2.6 د ټولنې ګډون

**2.6.1 لومړیتوب: د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د ملي ورځو په مناسبت د ورزشي نمانځغونډو په لاره اچول**

**2.6.1.1 فعالیت:** د ولایتونو د مرکز په کچه د ملي ورځو په مناسبت د ورزشي جشنوارو جوړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار د پوهنې ریاست له خواد اسلامي امارت د فتحې ورځ د یوې سیالی ترسره کولو په ترڅ کې لمانځل شوې ده.

**2.6.2 لومړیتوب: د پوهنې نظام د سواد زده کړې برخې د پراختیا لپاره د ټولنې د ګډون جلبول**

**2.6.2.1 فعالیت:** دمرکز، ولایتونو، ولسوالیو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د سواد زده کړې برنامې لپاره د سرچینو د بسیجولو لارښود په هکله لارښوونه او اجراات

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د سواد زده کړې مدیریت له خوا په وټساپ ګروپونو کې د معلوماتو د شریکولو په وسیله ترسره شوی دی. د یاد فعالیت په ترسره کېدو سره د پوهنې آمریتونو هم د لارښوونو مطابق د سواد زده کړې د زده کوونکو د جلبولو لپاره متنې او غږیز پیغامونه استولې دي.

**2.6.2.2 فعالیت:** د لومړیتوبونو په رعایتولو سره د ښوونیزو مرکزونو د جوړولو، تجهیز او ساتنې او پالنې لپاره د ځایي خلکو مادي او معنوي ګډون؛

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د سواد زده کړې مدیریت له خواپه وټساپ ګروپونو کې د معلوماتو دشریکولو په وسیله ترسره شوی دی، همدارنګه ، د پوهنې آمریتونو هم د لارښوونو مطابق د سواد زده کړې د زده کوونکو د جلبولو لپاره متنې او غږیز پیغامونه استولې، چې د سواد زده کړې د زده کوونکو په پراخه ګډون کې یې مثبت رول لوبولی.

**2.6.2.3 فعالیت:** د سواد زده‌کړې برنامو د ښه تطبیق لپاره د ملي او محلي سرچینو پېژندنه، جلب، جذب او ملاتړ

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، سواد زده کړې برنامې د ښه تطبیق په موخه، د سواد زده کړې عمومي مدیریت له خوا د ولایت مرکز په کچه ۱، د ولسوالیو په کچه ۲۱ او د کلیو په کچه۸۵ غونډې ترسره شوې دي، او په کلیوالي سیمو کې د یاد فعالیت د ښه تطبیق په موخه ۱۸ کمیټې هم جوړې شوې دي، همدارنګه د سواد زده کړې پروګرام د تقویت په موخه د کوار موسسې له خوا ۱۰۹۰۰ افغانیو معادل مرسته شوې ده.

**2.6.2.4 فعالیت:** دځایي خلکو له لورې د نمونه سواد زده‌کوونکو، ښوونکو او کارکوونکو مادي او معنوي هڅول.

۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د سواد زده کړې مدیریت له خوا تر سره شوی دی چې په پایله کې یې (57) تنه د سواد زده کوونکی هڅول شوي دي.

## 2.7 مدیریت

**2.7.1 لومړیتوب: د هغه زده کوونکو لپاره چې د هېواد او له هېوادڅخه بهر ښوونځیو کې د زده‌کړو د دوام غوښتونکي دي د ښوونې او روزنې د زمینې برابرول**

**2.7.1.1 فعالیت:** د زده‌کوونکو د ترانسکرېپټ ترتیبول او ښوونیزو سوابقو پراوونو تېرول

د ۱۴۰۴ د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي آمریت له خواد زده کوونکو لپاره۲۷ترانسکریپونه ترتیب او۲۴۰ ښوونیز سابقې د پړاوونو څخه تیر شوي دي او همدارنګه د خوړیابو د پوهنې اړوند د چمتلې لیسې دریې تنو زده کوونکو، دریې کلنې نمرې د فرانسې هېواد ته انتقال شوې دي.

**2.7.2 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د څارندوی او څارنجونو د ټیمونو د نظم او دسپلین څخهڅارنه او لیدنه**

**2.7.2.1 فعالیت:** د ښوونځیو د دسپلین له نظم څخه څارنه او د مرکز او ولایتونو د څارندوی او څارنجونو د ټیمونو د فعالیت څېړنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ۵۳ څارندوی او څارنجونو ټیمونو نظم او ډسپلین څخه څارنه او لیدنه ترسره شوېده.

2.7.3 لومړيتوب: په ښوونځيوکې د ورزشي امکاناتو برابرول

2.7.3.1 فعالیت: دمرکز او ولایتونو د پوهنې د ښوونځيو د اړتیا وړ ورزشي لوازمو چمتوکول او وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښار او ولسواليو د پوهنې آمریتونو اړوند۲۲ د کرکټ ټیمونو ته د مومن شرکت له خوالباسونه ویشل شوي دي.

2.7.4 لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیوکې د کولمو د چنجيو د محوه کولو د کمپاین پلي کول

2.7.4.1 فعالیت: د هېواد په ښوونځیوکې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجيو د محوه کولوکمپاين د تطبيق له څرنګوالي څخه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کولمو د چنجيو د محوه کولو په موخه د صحت عمومي مدیریت له خواد ۲۳ پوهنې آمریتونو اړوند ۸۱۰ ښوونځې څارل شوي دي.د البندازول ګولیو په ویش سره به زده کوونکي د کولمو د ناروغیو وژغورل شي او روغ صحت سره به زده کړو ته دوام ورکړي، خو تر دې دمه یادې ګولۍ ندي ویشل شوي.

2.7.5 لومړیتوب: په ښوونځیوکې د ورزشي امکاناتو برابرول

2.7.5.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د پوهنې د ښوونځيو د اړتیا وړ ورزشي لوازمو چمتوکول او وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله ځنډیدلی دی.

2.7.6 لومړیتوب: د بدني روزنې مضمون د درسي مفرداتو له تطبيق څخه داډ ترلاسه کول

2.7.6.1 د مرکز او ولایتونو د پوهنې د بدني روزنې مضمون د درسي مفرداتو او مدیریتونو لیدنه او څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د بدنې روزنې د عمومي مدیریت له خوا د ۵۷ ښوونځیو او ۹ د بدنې روزنې د مدیریتونو څخه څارنه او لیدنه په دوامداره توګه تر سره شوې ده.چې د یاد فعالیت په تر سره کېدو سره د بدنې روزنې په مدیریتونو کې شته ستونزه ور په ګوته او د حل په موخه ورته لازمې لارښوونې وشوې.

2.7.7 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو ښوونځیو په کچه د ځارندوی او ځارنجونو د ټروپونو د رامنځته کولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

2.7.7.1 فعالیت: د ځارندوی لارښود د تطبيق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښار، بهسود، کامه، دره نور، کوزکنړ، بهسود، خوګیانو، چپرهار، نازیانو، ګوشته، دوربابا، رودات، سره رود، سپین غر، لعلپورې او سره رود پوهنې آمریتونو اړوندد ځارندوي او ځارنجونو ټیمونه رامنځته شوي دي. چې تر دې دمه په ښار او ولسوالیو کې د ځارندوی لارښود د تطبيق په موخه ۷۰سلنه پرمختګ شوی دی چې دا پرمختګ د ښوونځیو د چارو د منظمېدو، د ښوونکو د کار دښې ارزونې او د زده کوونکو د تعلیمي وضعیت د دقیق ځار لپاره زمینه برابره کړې ده.

2.7.8 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د ترافیک ځارندوی د ټیمونو د رامنځته کولو او فعالولو د لارښود ترتیبول.

2.7.8.1 فعالیت: د لارښود د تطبيق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال دڅلورمې ربعې تر پای پورې، د ښار، بهسودو، سره رود، کوټ او پچیراګام د پوهنې آمریتونو اړوند ۱۷د ځارندوی او ترافیک ټیمونه رامنځته شوي دي.چې تر دې دمه د ښار او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې د ترافیک ځارندوی ټیمونو د رامنځته کولو او فعالولو په برخه کې د لارښود د تطبيق (42%) پرمختګ شوی دی چې دا به د زده‌کوونکو ترمنځ د ترافیکي اصولو د رعایت کچه لوړه کړي او د سړک پر سر د پېښو د مخنیوي لپاره بهیو ګټور ګام ثابت شي.

2.7.9 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د ځارندوی د اطفائیټیمونو د رامنځته کولو او فعالولو د لارښود ترتیبول.

2.7.9.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د ښار، خوږیانو، پچیراگام، سره رود، کوټ او بهسودو پوهنې آمریتونو اړوند ۱۲ د ځارندوې اواطفایه ټیمونه رامنځته شوي دي، چې تر دې دمه د ښار او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې د اطفائیې ټیمونو د رامنځته کولو او فعالولو په برخه 42سلنه پرمختگ شوی دی چې دا پرمختگ به د اورلگیدنې په وړاندې د عاجل غبرگون وړتیا لوړه کړي د زده‌کوونکو او ښوونکو خوندیتوب ته به وده ورکړي او په ښوونځیو کې به د وقایوي تدابیرو د پلي کولو زمینه مساعده کړي.

2.7.10 لومړیتوب: د راپوروونو شننه او توحیدول او له اړوندو مراجعو سره یې شریکول

2.7.10.1 فعالیت: د ولایتي ترسره شوو راپوروونو ترلاسه کول، توحید، شننه او وړاندې کول

د ۱۴۰۴ کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، ۱۲ راپورونه تر لاسه شوي او اړوند مراجعو (د عمومي زده کړو محترم معینیت) سره شریک شوي دي.چې دا به د ښوونې او روزنې د بهیر د لا ښه تنظیم، ستونزو د دقیقې پیژندنې او د پریکړو د نیولو لپاره پر حقایقو ولاړه زمینه برابره کړي.

2.7.11 لومړیتوب: د ښوونځي په کچه د مخدره توکو د زیانونو پوهاوی ورکول

2.7.11.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو په کچه د مخدره توکو د زیانونو او استفادې پر ضد د پوهاوي ورکولو د پیغامونو ترتیب او چمتوکول

د۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې په جریان کې د ښار، پچیراگام، کوټ، بهسودو، خوږیانو او سره رود د پوهنې آمریتونو اړوند ۵۰ بابه ښوونځیو کې د صحت عمومي مدیریت له خواد مخدره توکو د زیانونو په اړه عامه پوهاوي ورکړل شو دی، چې دا هڅه به د زده‌کوونکو د سالم شخصیت په روزنه، د ښوونیز چاپېریال د خوندیتوب په تأمین، او د ټولنې د راتلونکي نسل د خوندیکولو لپاره مثبته پایله ولري.

2.7.12. لومړیتوب : د سواد زده‌کړې د نتیجه بښونکو خدماتو د برابرولو په موخه د سواد زده‌کړې برنامې د محلي کارکوونکو د ظرفیت لوړولو ورکشاپ جوړول

2.7.12.1 فعالیت: د سواد زده‌کړې د کره راپوروونو وړاندې کولو او د دې ریاست په ډېټابس کې د سواد زده‌کړې برنامې د ارقامو او احصائیې د درجولو په موخه د راپور ورکولو او ډېټابس د ورکشاپ جوړول

یاد فعالیت د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د بودیجې او امکاناتو د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

2.7.12.2 فعالیت: د سیمې په کچه د سواد زده‌کړې برنامې په تطبیق کې د ملاتړ او ملي او محلي سرچینو د جلب په موخه د منابعو د بسیجولو ورکشاپ په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د امکاناتو او بودیجې د نشتون له امله نه دی تر سره شوی.نوموړی فعالیت داصلاح شوي عملیاتي پلان له مخې حذف شوی.

2.7.13 لومړیتوب: د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا مرکزونو، ساینس مرکزونو او د عملي تجربو د برنامو له ثبت څخه څارنه او ارزونه

2.7.13.1 فعالیت: د ولایتونو د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا مرکزونو او ساینس مرکزونو څارنه او ارزونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د مسلکي پراختیا د علمي غړو له خوا نه دی ترسره شوی ځکه چې د نصاب محترم ریاست له لوري اقدامات نه دي ترسره شوي..

2.7.14 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوار او کمپیوټرلبونو له چارو څخه ملاتړیزه څارنه

2.7.14.1 فعالیت: د امارتي او خصوصي ښوونیزو مرکزونو د لابراتوار او کمپیوټرونو له چارو څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ټولو ۲۳ پوهنې آمریتونو اړوند د ۱۲۰ بابه خصوصي او ۶۰۴ بابه امارتي ښوونیزو مرکزونو څخه—چې ۳ یې د اسلامي زده‌کړو اړوند ښوونیز مرکزونه دي، د لابراتوارونو او کمپیوټر لېبونو ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.
همدارنګه، د روداتو د پوهنې آمریت اړوند ۴ بابه ښوونځیو، د بټي کوټ د پوهنې آمریت اړوند ۷ بابه ښوونځیو، د کامې د پوهنې آمریت اړوند ۱۷ بابه ښوونځیو، د نازیانو د پوهنې آمریت اړوند ۳ بابه ښوونځیو، د کوز کنړ ۲ بابه ښوونځیو، د هسکې مېنې د پوهنې آمریت اړوند ٦ بابه ښوونځیو، د شیرزادو د پوهنې آمریت اړوند ۲ بابه ښوونځیو، د سره رود د پوهنې آمریت اړوند ۱۵ بابه ښوونځیو، د شینوارو ۲ بابه ښوونځیو، د لعلپورې ۳ بابه ښوونځیو، د ښار ١٦ بابه ښوونځیو، د پچیرا اګام ۸ بابه ښوونځیو، د دره نور ٦ بابه ښوونځیو، د بهسودو ۴ بابه ښوونځیو او د ګوشتې ۴ بابه ښوونځیو د ساینس او ریاضیاتو د عملي کړنو راپورونه تحلیل شوي دي.
د یادو څارنو او تحلیلونو په پایله کې به د ولسوالیو ښوونیز مرکزونه له اړینو علمي امکاناتو برخمن شي او د زده‌کوونکو عملي زده‌کړې به لا پیاوړې شي.

<u>2.7.15 لومړیتوب: د ښوونکو، سرښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د تدریس له بهیر څخه ملاتړیزه‌څارنه او لیدنه او د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا د ټیمونو د کړنو له سرته رسولو څخه‌داډ ترلاسه کول</u>

**2.7.15.1 فعالیت:**دولایتونو د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا له مرکزي هستې څخه ملاتړیزه څارنه
د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ننګرهار ولایت اړوند د ۲۳ پوهنې آمریتونو په کچه، د مسلکي پراختیا د ټیمونو د کړنو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه څارنه ترسره شوې، دا څارنه د ښوونکو د تدریسي کړنو د ارزونې د ښوونې کیفیت د لوړولو او د موجودو ننګونو د پېژندنې لپاره اغیزناکه وه.

**2.7.15.2 فعالیت:** د عمومي زده‌کړو، حیاتي سواد له ښوونځیو او سواد زده‌کړې له کورسونو څخه ملاتړیزه څارنه
د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده‌کړو، حیاتي سواد له ښوونځیو او سواد زده‌کړې له کورسونو څخه د ملاتړیزې څارنې په موخه؛ ټول ۵٦۷۹ ښوونځي کتل شوي، چې لدې جملې څخه ۵۴۴) ۱ دولتي او ۲۳) ۸ خصوصي ښوونځي، ۱ د حیاتي سواد ښوونځی او ۲۴۷ د سواد زده کړې کورسونه د مسلکي پراختیا د علمي غړو له خوا د اړوند پوهنې آمریتونو په کچه څارل شوي دي.چې دغه څارنه به د سواد زده کړې پروګرامونه لا اغېزمن، معیاري او د ټولنې د اړتیاوو مطابق کړي.

**2.7.15.3 فعالیت:** د ښوونیزکال په لړکې لږترلږه څلور ځلې د رشتې مطابق د ښوونکو د تدریس د بهیر لیدنه
د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، په نوبتي ډول د ټولو۲۳ پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو د ۸۸۸۸ تنوښوونکو له تدریسی بهیر څخه د څارنې عمومي مدیریت له خواملاتړیزه څارنه ترسره شوې. همدا راز داډول لیدنې د ښوونې او روزنې د دوامدار کیفیت تضمین ته زمینه برابروي.

**2.7.15. فعالیت:** په ښوونیزکال کې لږترلږه څلور ځلې د سرښوونکو او مدیرانو د مسلکي کړنو د بهیر لیدنه
د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مدیرانو او سرښوونکو د مسلکي کړنو د بهیرڅار په موخه د اړوند پوهنې آمریتونو په کچه د ۱۰۰۰ تنه سرښوونکو او ۴۸۲ تنه آمرینو او مدیرانو د کړنو څخه، د مسلکي پراختیا غړو له خوا څارنه شوې ده. چې دا چارې به د ښوونځیو د رهبرۍ سیستم د پیاوړتیا، د ښوونکو د تدریسي کیفیت د ارزونې، او د شفاف او معیاري ښوونیز چاپېریال د رامنځته کولو په برخه کې رغنده اغېزولرې.

**2.7.15.5 فعالیت:** په ولایتي کچه د ترسره شوو څارنو او لیدنو د علمي راپورونو شننه، توحید او وړاندې کول؛
د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، په ولایتي کچه ۹ راپورونه د مسلکي پراختیا عمومي مدیریت له خوا ترتیب او د همدې راپور کاپي د یاد پوهنې ریاست د ښوونې او روزنې عمومي آمریت ته، یوه کاپي د تضمین کیفیت آمریت ته او همدا راز یوه کاپي د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست ته ورکړل شوې ده.

<u>2.7.16 لومړیتوب: دشرایطو لرونکو ماشومانو د شمولیت له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه</u>

**2.7.16.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې دشرایطو لرونکو ماشومانو د شمولیت له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای، په ښوونیزو مرکزونوکې دشرایطو لرونکو ماشومانو د شمولیت له بهیر څخه د ملاتړیزې څارنې په موخه؛ د د مسلکي پراختیا غړو له لوري۲۷۱۵ښوونیزو مرکزونو څخه څارنه ترسره شوې ده او ارقام یې د پوهنې وزارت له محترم مقامسره شریک شوي دي.

**2.7.17 لومړیتوب: د خصوصي ښوونځیو د قانوني او باکیفیته فعالیت لپاره زمینه برابرول**

**2.7.17.1فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د ستونزو او شخړو څېړنه**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ٦ بابه (عزم، عبدالرحیم جلالي، خالد بن ولید، شمس لندن، بصیرت کاروان د ښار د پوهنې آمریت اړوند او النصر د کامې د پوهنې آمریت اړوند ) خصوصي ښوونځیو د شخړو او ستونزو د څیړنې په پایله کې د عبدالرجیم جلالي جواز تمدید او النصر۳ ښوونځی خپل مالک ته وسپارل شو؛ د خالد بن ولید، شمس لندن او بصیرت کاروان خصوصي ښوونځیو د ښوونکو د امتیاز او د زده کوونکو د شهادتنامو ستونزه د پلټنې عمومي مدیریت ته محول او حل شوه.

دا لومړیتوب د څلورمې ربعې په عملیاتي پلان کې حذف شوی دی!

**2.7.18 لومړیتوب: ستونزو ته رسېدنه، تصدیق‌لیکونو ته اعتبار ورکول او د ځانګړو معلوماتو راټولول**

**2.7.18.1 فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او ښوونیزوکورسونوکې د زده‌کوونکو د چارو ستونزو ته رسېدنه**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښار د پوهنې آمریت اړوند د اتفاق خصوصي ښوونځي د یو تن زده‌کوونکي د اسنادو د نیمګړتیا موضوع وڅېړل شوه او زده‌کوونکی د خپلو قانوني حقوقو څخه برخمن شو. همداراز، د عزم او عبدالرحیم جلالي (د ښار د پوهنې آمریت) او النصر۳ (د کامې د پوهنې آمریت) اړوند خصوصي ښوونځیو شخړې ارزول شوي، چې په پایله کې د عبدالرحیم جلالي ښوونځي جواز تمدید او د النصر۳ ښوونځی خپل اصلي مالک ته وسپارل شو. همداراز، د مستقبل، عزم، کابل پریس او خپلواک ښوونیزو مرکزونو د جواز مودې د پای ته رسېدو له امله دا مرکزونه وڅېړل شول او د جواز د تمدید سپارښتنه ورته وشوه. دا فعالیت د څلورمې ربعې په عملیاتي پلان کې حذف شوی دی.

**2.7.18.1 فعالیت: په ډېټابس کې د خصوصي کورسونو د زده‌کوونکو د تصدیق‌لیکونو ثبتول او اعتبار ورکول**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ۲۵۰ خصوصي کورسونو ټول‌ټال ۷۰۰ تصدیق‌لیکونو ته د اساسي او ثانوي زده کړو د عمومي مدیریت له خوا رسمي اعتبار ورکړل شوی او ثبت شوي دي.

**2.7.19 لومړیتوب: په خصوصي ښوونځیو کې د تدریس د کیفیت لوړولو ته زمینه برابرول**

**2.7.19 فعالیت: په مرکز او ولایتونوکې د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو بېلګه‌ایز کنټرول.**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښار د پوهنې آمریت اړوند د اتفاق خصوصي ښوونځي د یو تن زده کوونکي د نیمګړو اسنادو ستونزه بررسي شوه او زده کوونکې د خپلو حقوقو څخه برخمن شو، او همدارنګه د ښار د پوهنې آمریت اړوند د مستقبل، عزم، کابل پریس او خپلواک ښوونیزو مرکزونو د جوازونو وخت پوره شوی وو چې یاد کورسونه بررسي او د جواز د تمدید سپارښتنه ورته وشوه.چې پر دې سره د ښوونځیو فعالیتونه تنظیم، نیمګړتیاوې تشخیص او د اصلاح لپاره لازم اقدامات ترسره کېدای شي.

**2.7.19.2 فعالیت: د هغو ښوونځیو پېژندنه او تقدیرول چې ښوونیز معیاري خدمات وړاندې کوي**

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د امکاناتو د نشتون، دتشکیل د کمښت او کار د زیاتوالیله امله یاد فعالیت د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیریتله خوانه دی ترسره شوی.

**2.7.20لومړیتوب: د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا له برنامو، د سواد زده‌کړې له طرحې او د همکارو مؤسسو د تفاهم‌لیکونو له تطبیق څخه څارنه او لیدنه**

2.7.20.1 **فعالیت:** د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا د ظرفیت لوړونې د تطبیق شوو برنامو له اغېزمنتیا څخه څارنه او لیدنه

